# په افغانستان کې د محمدزي کورنی اقتدار ته یوه ځغلنده کتنه

د محمدزي کورنی د امیرانو او شاهانو یوه لنډه پیژندنه

Ketabton.com

د ثور میاشت کال ۱۳۷۳ (۱۹۹۴م)
د کابل غربي سیمه،
جنګ په ټول شدت او وحشت دوام لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

له پرون راهیسي دا سیمه نسبتاً آرامه ښکاري چه دلیل یې لا معلوم ندی. نو نن د فرصت نه په استفادې په ډیر احتیاط ووتلم او د وچې ډوډۍ د اخیستلو لپاره زمونږ د سیمې نږدې نانوایي ته ولاړم چه د نان بایي مخې ته د خلکو غیر عادي قطار او بیر او بار وو. آوازې داسې وې چه ګلبدین بیا د خوراکي موادو لاره د کابل په غربي سیمې هم بنده کړې ده او اوړه په بازار کې کم شوي دي. که څه هم د ګلبدین او مزاري ترمنځه د رباني پر ضد د سولې تړون هم شوی دی، مګر ددوی قول او تعهد هیڅکله کوم اعتبار نلري.

نو وچې ډوډۍ ته د انتظار په همدې شیبو کې مې د خلکو تبصرو، خبرو او د جنګ اخبار ته غوږ نیولی وو. واړه، زاړه ټول په روانو حالاتو غږیدل. ډیر احساساتي او له تشنجه ډکې خبرې اترې روانې وې. هر چا یو ځوک ملامتول، بس هرڅه شکایت وو او ښیراوې وې. چا به د پرون آرمان کاوو او ځینو خو پروني د ننیو روانو وحشتونو عامل ګاڼه. پدې ګڼه ګوڼه کې ځینې ډیر خام ګوټي ځوانان هم وو، چه په هیجان یې د مشرانو خبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته غوږ نیولی وو. په خبرو او مناقشو کې به کله کله د ظاهرخان او داود خان نومونه او ددوی زمانې هم يادې شولې. او بیا به بل په لنډه منډه خبروته راداخل شو او خلقیان او پرچمیان به یې وکنځل.
زما توجه یو خامکي ځوان جلب کړه چه په ډیره عاجزي او ټول صداقت یې وویل چه:
”زه خو هیڅ نپوهیږم چه دا داودخان او ظاهرخان په کومه زمانه کې وو، کوم یو مخکې وو او په دوی بیا څه راغلل“.
پنځلس کاله مخکې چه کله په افغانستان کې د کړو لاړې حزبي شوي کسانو د خپل وطن د وطنوالو په حقارت او مرګ لاس پورې کړ او خلکو ته د هماغو ظالمانو له لاسه خپل وطن او خپل کور او ګور یو شی شو، نو ډیرو خپل کور او وطن پریښود، مهاجر شول. چه بیا په پردیو هیوادو کې د زیږیدلو افغانانو نسل نن پنځلس کلني ته رسیدلي دي. مګر د اکثرو لپاره د خپل وطن د تاریخ کیسې چا ندي کړي. او که یې کله نا کله هغه کیسې آوریدلي هم وي، اکثراً له غرضه ډکه تحریف شوي کیسې دي. په دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خامګوټو ځوانانو کې ځینې حتی پدې هم نپوهیږي چه د ظاهر خان پلار څوک وو؟
ددغه هلک عمر د ۱۹ او ۲۰ کالو په شا او خوا کې تخمین کیده او معلومیده چه تقریباً ټول عمر یې (ممکن ۱۴ یا ۱۵ کاله) له افغانستان نه بهر یا د پاکستان په کمپونوکې او یا هم د ایران په کمپونو کې تیر کړی وو او اوس اوس بیرته کابل ته راغلی وو.
ددې ځوانکي خبرو ډیر خپه کړم او ددې نسل په حال مې سخت افسوس راغی. په ریښتیاهم دوی به په هغو کمپونو کې څه زده کړي وي، چه حتی د ابتدایي مکتب په درسونو کې به دوی ته یوازې د جهاد، اسلام، او د عربو افسانې تدریس کیدلې. او یوازنی هدف د عربو غلامي وه او بس.
که څه هم چه له ډیر روحي او عضوي فشار لاندې ددې بدو ورځو چه پدې سیمه کې جنګ په ټول وحشت روان دی، د روانو حالاتو د ورځني یاداشتونو په لیکلو ډیر مصروف یم، مګر د یو قوي عزم د تعهد له مخې مې وار له واره تصمیم ونیوو چه د یاداشتونو ترڅنګ به یو ډیر لنډ نوټ د افغانستان په تیرو حالاتو ولیکم، چه د ثور د کوتاه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ورځې نه به د ماضي په لور ګام واخلم او يوه ځغلنده نظر به په هغو تيرو تاريخي وقايعو وکړم. او حد اقل د محمدزي خاندان تر پيله يوه لنډه تاريخچه ددوی د پيژندنې په هدف ځوانانو ته او ځينې نورو هغو افغانانو ته چه لدې تاريخي وقايعو څخه نه ناخبره او ليري پاته شوي دي د يوه رهنما په شکل ورکړم. پدې اميد چه که ګوندې د لوستونکو لپاره يو رفرنس او د سبا په لور يوه روښانه آئينه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# - ١ -

# د ثور کودتا

## کال ۱۳۵۷ او د ثور اومه نیټه

په هغه ورځ یوه عسکري کودتا وشوه. په نورو هیوادو کې اکثره کودتاوې چه شوي د شپې له مخې شوې دي، یا کامیابه شوي او یا هم ناکامه شوي. بیا نو کودتاچیان محاکمه شوي دي او ډیرو خپل سرونه هم بایللي. مګر د کابل کودتا په رڼا ورځ کودتا وه او یو څو ساعته وه.
دا کودتا یوه حزبي کودتا وه چه د کابل په ځینو عسکري قشلو کې په آیډیولوژي مایه شوې وه او د ځینو پوځي قشلو د ځینو افسرانو په سینو کې پخه شوې وه. چه لس- پنځلس کلن حزبي تبلیغ او آیډیولوژیکي فعالیت ئې څټ ته درلود.
آیډیولوژي چه څومره په ټول جهان کې د هر هیواد دننه په دوو نومونو او په یو ټینګ سیاسي قالب کې یو د بل په ضد رواج موندلی وو، هغه یو چپ وو او دوهم یې ښئ وو. له چپ څخه مقصد سوسیالیزم او کمونیزم وو چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مارکسیزم مشترکه ریښه ئې درلودله. او ښئ چه وو نو د هر رنګه ارتجاعي افکارو، تمایلاتو، که دا سیاسي اقتصادي وو او که مذهبي وو یوه څهره وه. که لنډه شي نو د ترقي نوم "د چپ" نوم وو او د پس مانده ګي او احتیاج او تعصب نوم په "ښي" یادیده.

دا دوه جریانونه د فرانسې له ستر انقلاب څخه "۱۷۸۹م" راهیسې چه څومره سیاسي ماضي لري، مګر آیډیولوژیکي مشخصتوب ئې په برخوردونو له مارکسیزم سره پیدا کړ. نو دا جریان طبعاً افغانستان ته هم داخل شوی وو، کله پټ او کله لوڅ ښوریده. دا د خپلې زمانې منل شوی جریان او غز هم وو.

د چپ آیډیولوژي نظري افکار یواځې سیاسي او اقتصادي نوي نظریات نه وو، بلکه ورسره سره د اجتماعي او فلسفي ژورې څیړنې او تاریخي مشتملات ئې هم درلودل، چه په یو علمي پس منظر او په یو شعوري لرلید ئې تکیه درلودله. دا جریان نوی وو، نو چه څومره په علم ولاړ وو هومره هم د فلسفي پوهانو له خوا له بل هر چا نه په مخکې هرکلی شو. تجدد پسندو کسانو وغوښتل چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له نظري حالت څخه ئې وباسي او د عمل میدان کې د خپلو ټولنو په ګټه ئې پیاده کړي. چه د ګټو په سر کې د اقتصادي ژوند بدلون او بهبود وو. او له بهبود څخه مقصد دا وو چه فقیر او ثروتمند یا سره نژدې شي او یا فقیران د ثروتمندانو تر منځه رامنځ ته شوې فاصلې ته ونګوري او نژدیوالی یوې خوا ته پریږدي، بلکه د مصافې له منځه وړلو په ځای ثروت مندان له منځه ویسي.

په همدې ځای کې لارې بیلیدلې، ځکه چه د نظر او کتاب ځای وینو او چړو نیوو. نظریه په حقیقت کې د یو بشپړ علمي موضوع په مطالعې ولاړه وه، چه تعلیمي اړخ ئې د سواد د لوړې درجې آګاه کدر میدان ته ویست. او هم ئې په همداسې یو عالي کدر تکیه کولای شوای، چه د خلکو د افکارو په علمي روزنه کې برخه واخلي. نو مکتب هم ورته ویل کیدلی شوای او د عدالت خواهي یقین د قناعت له لارې خلکو ته د سولې او تفاهم مهم مطلب وو. او چه د مکتب له مهم درس څخه ګټل کیده. ځکه نو دا لاره د مسالمت آمیزي په عنوان خپل ځان ښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر دوهمه لاره چه د جبر او تشدد او حتی د جنایت لاره وه. دلچسپه داده چه هدف عدالت او مساوات وو، مګر وسیلې یې جنایت وې. نو به د جنایت له لارې ګویا عدالت ته رسیدل. چه د روس د انقلاب د تاریخ لنډیز همدا دوه خبرې دي، چه د اکتوبر د کمونستي انقلاب (۱۹۱۷م) په نوم یاد شو، چه غوښتل ئې د انسان په وینو د عدالت نوم ولیکي.

د دې دوو لارو د بیلیدو لپاره داخلي او خارجي مهم عوامل پدې دو جهتو کې په مستقیمه توګه دخیل وو. یو خو د خپل وخت داخلي او خارجي هغه حالات وو چه دا دوه لارې ئې رامنځ ته کړې. نو ذهن هم له تاثیر لاندې، هم خپل داخلي تحولات تیرول او هم ئې په راتلونکو تحولاتو خپل تاثیر پریښود. او د تحولاتو په جهت کې ئې رول لوباوو.

د سواد درجه چه څومره مهم عامل وو، چه آیا د عدالت له عنوان لاندې به له جنایت او تشدد څخه کار آخستل کیده او که نه، د تحمیل ځای به قناعت نیوو؟ قناعت له علمي پوهې څخه خپل انساني مقصد ته رسیده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تحمیل په شخصي عقدو او د زور په ناقصو وسایلو ولاړ وو، چه عاقبت به ئې هم خپل علت ته ورته وو او دردناکې نتیجې به ورسره وې.

د چپ او ښي په نوم د آیډیولوژیکي مبارزې ریښې او د انګیزې اصلي ځای غرب وو نه شرق. ځکه چه دا له ابتدا نه په اقتصادي شرایطو ولاړه مفکوره وه او علت ئې دا وو چه غرب د صنایعو د تخنیک د پیشرفت د لارې پیش قدم قوت وو. نو خبره د کارګرانو او د سرمایه دارانو تر منځه وه، نه چه د مذهب په نوم د کافر او مسلمان تر منځه کوم یو مذهبي تضاد وي. کوم چه بیا په ډیرو شرقي او اسلامي هیوادو کې دا د سوسیالیزم اقتصادي مسئله په مذهبي تبلیغ منحرفه شوه.

د چپي افکارو نظریه چه کله د غرب د صنایعو له اقتصادي داخلي تضادونو سره یو ځای طبقاتي مبارزه وګرځیدله، چه څومره ئې د علمي مطالعې ضرورت درلود هومره هم ځای ئې بیا هم په همدغه دوو علتونو "اقتصادي پیشرفت او د سواد درجه" غرب وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر خبره چپه واوښتله، د کارګرانو د انقلاب غږ په روسیه کې پورته شو. دا د تقلب او دروغو په تبلیغ ولاړ غږ به تر هغه وخته په لا زیاتو دروغو تکیه کوله، چه بلاخره دروغو نشوای کولای چه دا کوږ بار له غورځیدو څخه وژغوري.
ځکه چه روسیه هومره مترقي هیواد نه وو چه تخنیکی پوهه، تخنیکی کادر، اقتصادي پیشرفت او عمومي سواد ئې یوه مترقي ماضي ولري. داسې ماضي ئې ندرلودله.
خلک چه څومره فقر وهلي وو او چه څومره بیسواده وو، هومره هم په روسیه کې د دیموکراسي ریښې د افکارو په آزادي او بیان اوبه شوې نه وې. بلکه د یو نظامي دیکتاتوري او امپراطوري په شرطونو کې خلک تل ځوریدلي ساتل شوي وو.
او همدا علت وو چه فقر د عقدو او جبري وسایلو د استعمال یو ژور انتقام په ځان کې درلود، هغه هم پداسې وخت کې چه روس له جرمني سره په مخامخ د لمړي جهاني جګړې په شرایطو کې په جنګ کې وو. چه روس هم له دردناکو شکستونو سره مخامخ شوی وو او هم د فقر او ناداري دردناکې نتیجې یوه غمناکه څهره رامنځ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې وه. نو شکست خوړلې اردو نشواى کولاى چه د علمى آيډيالوژي په مدرسه کې د اقتصادي ښه توب درس ولولي. ځکه چه چپي آيډيولوژي د کارگر د طبقې د خپل طبقاتي مبارزې مدرسه وه، نه د عسکرو او پوځي قوت آيډيولوژي او سياسي مکتب. د ځمکې فقيران د فابريکو له کارگرانو څخه لا زيات له تعليم او سواد څخه ناخبره وو.

نو په روسيه کې د کارگرو د طبقې آيډيولوژي نه په فکري لحاظ د سواد مرحله درلودله او نه هم د صنايعو د پيشرفت پاخه بنيادونه موجود وو. چه لمړى فکري انقلاب خپله مرحله په روسيه کې د کارگرانو تر منځه پخه کړي وى او تيره کړي وي، چه بيا وکړاى شي له خپلې آيډيولوژى نه خپل بيرغ جوړ کړي او په خپل لاس ئې ورپوي نه د پوځ په لاس.

پوځ چه خپله د فابريکو د ماشين نيولو په ځاى په لاسو کې برچې لري، کارگره طبقه نه وه او د برچو په نيولو ئې لاسونه تربيه شوي وو. نو پوځي ذهن، هغه هم د فقر په داخلي عمومي شرايطو کې او د جهاني جګړې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکست په عقدو يو انتقامي روزنه چه د روس د پوځ په برخه شوې وه، يو بل ځانګړی علت وو چه د آيډيولوژي له بهانې لاندې پوځ د يوې وسيلې په توګه استعمال شو او کودتا ته انقلاب وويل شو.

د ديموکراسي او د علم د وړنګو مشخصتوب همدا دی چه ذهن له وحشت څخه منع کوي، او همدا انساني روزنه ورکوي. او که دا مرحله نه وي او د علمي تربئې ځای که خالي وي، بيا نو د علمي پوهې او انساني عقيدو ځای په هغې ټولنې کې د راز راز عقدو خشم نيسي. او نتيجه ئې د ټولې اجتماع د ژوند لپاره د عدالت پاک مقصد نه نيسي، بلکه هغه څه چه منځ ته راځي هغه د ظلم لاس او ظالمان عوض کيږي او هيڅکله ظلم له منځه نه ځي. کوم چه په روسيه کې همدا کار وشو او بيا هم له ظلم او وحشت څخه کار واخستل شو.

د روس د دې ظالمې ديکتاتوري دوام په افغانستان کې د ثور " ۱۳۵۷" د کودتا په نوم ياد شو. چه د روس د استبداد سيوری وو چه بيا ئې هم په عقدو تکيه کړې وه. او له قامی، مذهبي، شخصي او با الخاصه د روشنفکري

(c) ketabton.com: The Digital Library



له عقدو څخه ئې نشئت کړی وو او په همدغو ریښو ولاړ وو. نو ئې د سپینې ورځې کودتا ته په رڼا رڅ د کارګرو د انقلاب نوم ورکړ. چه نه موږ صنایع درلودل، نه مو خلک په سلو کې ۹۵ فیصده د بیسوادي او جهالت له تیارو څخه خلاص شوي وو، او نه د یو واحد ملت د تاریخي تکامل مرحلې ته رسیدلي وو. بلکه له یونیم زر کالو راهیسې په شلم عصر کې یو امت پاته شوي وو. لکه څرنګه چه ننی اخواني دولت په همدې ریښو ولاړ دی.

کله چه د دې امت د سینو مذهبي تعصب ته د چاودنې ضمینه او شرطونه برابر شول، نو د افغانستان په تاریخ کې یوه داسې سکه وچورلیدله چه مخونه ئې یواځې په سره او شنه رنګ بیلیدل. د کمونیزم وحشت او د اسلام جنایت او جهاد په ظاهر کې دوه بیل نومونه، مګر په یوه واحد خصلت د افغانستان په ورانولو کې یو لاس شول.

دواړو له جنایت څخه کار واخیست، او دواړه له جهالت څخه زیږیدلي وو. په دواړو کې د افغانیت په ضد تعصب پوخ شوی وو. نو چه څومره په جنایت کې انساني عاطفه نه وي، هومره هم له جنایت څخه تر دا ننه د بشر په ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاریخ کې څوک عدالت ته رسیدلي ندي.
چه بالاخره د سکې سور مخ د سکې شین مخ ته طلایي چانس برابر کړ او کمونیزم د اخوانیزم په سر د سروزرو اقتدار تاج کیښود، چه د اخوانیزم لوی ترین آرمان وو.
نو افغانستان نه یوازې چه د ترقي په لور روان نشو، بلکه د تیرې پیړۍ ټولې علمي، کلتوري او اجتماعي لاس ته راوړنې یې د اسلامیزم په خبیثه لاس یوه پیړۍ شاته وغورځاوو.
دا وو د تیرو څوارلس کلونو لنډه سریزه او ترې پاته د غم لوی داستان.
دا چه پسله هغې خونړی ورځې په افغانستان څه راغلل، زما په نورو مختلفو یاداشتونو کې په مفصل ډول د ورځني پیښو د فلسفي تحلیل او تبصرو سره ذکر شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# – ۲ –

# سردار محمد داود خان

## کال ۱۳۵۲ د سرطان د میاشتې شپږویشتمه نیټه

د افغانستان خلکو په همدې نیټه د کابل له راديو څخه یو نوی غږ واورید، چه د دواد خان له خولې څخه اووت او هغه د "جمهوریت" نوم وو، کوم چه داود خان اعلان کړ.
د دواد خان پلار سردار محمد عزیز خان نومیده.
سردار محمد عزیز خان څلور نور ورونه درلودل چه یو سردار محمد نادر خان وو، دوهم سردار محمد هاشم خان وو، دریم سردار شاه ولي خان او څلرم سردار شاه محمود خان وو. د دې څلورو واړو ورونو زیږیدنه او د ژوند یوه برخه په برطانوي هند کې چه د امیر دوست محمد خان د فرار تر زمانې ئې د خپلو پلرونو د تیر ژوند داستان غوټه شوی دی رسیږي. له هغې جملې څخه نادر خان په کال ۱۸۸۰م په هند کې وزیزیده. او کله چه د امیرعبدالرحمن خان پاچاهي تیره شوه او نوبت ئې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوی امیر حبیب الله خان ته ورسید، نو بیا امیر حبیب الله خان د خپلې کورنۍ غړو ته دا اجازه ورکړه چه کولای شي افغانستان ته راشي، مګر پدې شرط چه آرام کشیني. نو کله چه نادر خان افغانستان ته راغی ۲۵ کلن وو په فارسي ډیر کم پوهیده او په پښتیو ژبه هیڅ نپوهیده. دا فامیل که په ظاهره توګه آرام وو، مګر ډیر پخواني حسابونه ئې تر خپلو منځو درلودل چه له پټو لوڅو داخلي لانجو ډک وو. د دې داخلي برخوردونو پړسیدل یوه ورځ نه یوه ورځ یوه چاودنه په ځان کې خامخا ساتله. چه بلخاصه د ظاهر خان د پاچاهي موده نورو ځینو سردارانو ته د تحمل له حد څخه اووښتې او اوزده شوې وه. کوم چه د ترو له زامنو څخه سردار داود خان او رقیب ئې د سردار شاولي خان زوی سردار عبداولي خان تر منځه میدان ته په وتلو شوی یو داسې رقابت وو چه سردار محمد داود خان په خپل فامیل کې پاچاهي ته سترګې نیولې وې. او دې سترګو باندې ظاهر خان پوره خبر وو، مګر سردار عبداولي خان ئې چه زوم هم وو د اردو په مهم مقام مقرر کړی وو، چه د داود خان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



احتمالي نظامي فعالیت چه سلطنت او د ظاهر خان د تخت لپاره ئې که خطر پیښاوو مخه ونیسي.
مګر د شلمې پیړۍ آخیري لسیزي وار په وار د شاهانو د تاج او تخت زمانه په څپو وهله او وراسته تختونه د ماتیدو له خطر څخه د بچ پاته کیدلو کم چانس درلود. بیا بالخاصه چپي آیډیولوژي د ترقي او د نوی معاصر مدنیت په توګه خپل غږ د جهان په ټولو هیوادو کې خپور کړی وو. داود خان دا غږ د یوې وسیلې په توګه د خپل پټ مقصد لپاره آوریدلی وو او منلی ښکاره کیده.
مګر نه پدې مانا چه په کارګري انقلاب سلطنت واړوي او نه پدې آرمان چه لمړی هدف افغانستان وي، بلکه لمړی مقصد د داود خان په زړه کې غوټه شوی د اقتدار او قدرت پټ او پړسیدلی غوټه وه، چه د سلطنت او قدرت په راس کې وي او بل فامیلي رقیب له خپل ځان نه لوړ ونلري.
سردار داودخان د اردو زاړه عناصر چه د سردار عبدالولي له لاس او نظارت لاندې د ظاهر خان د پاچاهي په وفاداري کې وو پریښودل، د هغه په ځای ئې له خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظارت لاندې د پوځـي کدر روزلو ته په یو لوی پلان ملا وتړله. چه هغه یوه نوې سیاسـي داسې لوبه وه چه د آیډیولوژۍ ترکیب ئې درلود. نو ئې دا نوي افسري ځوانان پرله پسې په هغه وخت کې روسئې ته واستول، چه کله داود خان صدراعظم وو. دا هغه تخمونه وو چه داود خان به خپله لوبه د دغو تخمونو په حاصل ګټله. آیډیولوژۍ چه د سوسیالیزم تیوري وه او سوسیالیزم د ترقي نوی سیاسـي جریان هم وو، نو سردار داود خان لدې لارې په افغانستان کې د مترقي کسانو د تر لاسه کولو شطرنج هم لوباوو. هغه هم پداسې وخت کې چه ماسکو د ټولو مترقي نهضتونو سمبول او د رهبري د پیشقدمه مقام تبلیغ د جهان د ډیرو هیوادو په دننه کې بې حده موثرې نتیجې رامنځ ته کړې وې. چه ډیر نړیوال چپي احزاب د ماسکو د تبلیغ په لومه کې لویدلي وو. چه ډیرو ته ماسکو د ترقي او عدالت کعبه ګرځیدلی وو.

په افغانستان کې د دیموکراسـي د نهضت آرمان او ترقي غوښتونکي افکارو ډیر پخواني پټ او لوڅ غزونه او خوځیدونکي موجونه وو چه د ځینو وطنپرستو کسانو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سینو کې ئې ریښې درلودلې. چه د شاهي رژیمونو ارتجاعي خنډونه ئې له هغې لارې لیرې کول غوښتل کوم چه د افغانستان د ترقي په مخکې پراته وو. چه پدې سیاسي جریان کې ځینو افغانانو د مطلقه شاهي رژیم په ځای مشروطه رژیم غوښت او ځینو جمهوری نظام غوښت. خو پدې غوښتلو کې د افغانستان لپاره ترقي او دیموکراسي یوه ملي آرزو وه او افغانستان ئې د افغانستان لپاره غوښت. کوم پردی سپیرونی پکې نه وو چه غلامي پکې وې، که دا غلامي سیاسي وي او یا که د آیډیولوژي غلامي وي. بلکه دا یوه نیکه ملي جذبه وه چه د ملت پرستانو آرمانونه پکې پراته وو.

دا آرمان په ډیرو برخو کې د سوسیالیستي آیډیولوژي جریان ته لاره پیدا کړه، ځکه چه سوسیالیزم په خپله کتابي ژبه چه څومره عدالت ستایه او د بیوزلو په ملاتړي ولاړه وه، هومره ئې د خارجي هیوادو تسلط هم بیدریغه رداوو. او چه څومره د سیاسي ارتجاع په ضد وه، هومره هم د اقتصادي ژوند د عدالت په طرفداري وه. نو د افغانانو د ملي نهضت خوځیدلي تلاشونه خارجي دښمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپله خاوره کې لید، چه افغانستان لا خپل پوره استقلال ګڼلی نه وو او زموږ په خاوره انګلیسانو سیاسي تسلط درلود. او هم پدې هیواد کې له همداسې پردي تسلط لاندې پردي پلوه تخت او د هغه واکداران لیدل. او که بیا افغانستان له خارجي تسلط څخه آزاد هم شو، مګر د ځینو په پکر جمهوریت نه وو راغلی او د ځینو په پکر کې خو لا دا هم وو چه لکه د روسیې په شان رژیم ولرو چه هلته هیڅ طبقاتي او ملي ستم نشته، فقر نشته. او دې ته ورته تبلیغونو له آغیزې لاندې ډیرو ته روسیه د دنیا په سر جوړ شوی جنت معلومیده.

پدې توګه ډیر پاک احساسات او ملي آرمانونه چه که له یوې خوا په خپل ملي تعهد پاک پاته شول، مګر ډیر ئې د سوسیالیزم له عنوان لاندې د ماسکو د دام دانې وګرځیدلې او پدې پوه نشول چه په ماسکو کې تبلیغ په آیډیولوژي اصل باندې حاکمیت درلود او په حقیقت کې دروغو حکومت کاوو. او دا دروغ او منافقت وو چه د نورو هیوادو د پاکو احساساتو خاوندانو ته دام او لومې وګرځیدلې. چه بیا ډیر پکې منحرف شول چه درد ئې پدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیواد کې څوارلس کاله زيات غمونه پيدا کړل. او افغانستان ئې په پيړيو د ورانيو کندې ته وغورځاوو.
سردار محمد داود خان هم د دغو دردونو په راس کې د عمده عامل په توګه علتونه وروزل، چه بيا ئې په هماغه کادر کوم چه د ده له خوا روسئې ته ليږل شوي افسران وو او اکثره ئې د ماسکو د تبليغ په لومو کې لويدلي وو، چه حتى ملي جريان ته ئې په افغانستان کې ارتجاعي افکار ويل، کودتا وکړه چه داود خان ئې مطلق قدرت ته ورساوو.
د سردار داود خان کودتا کوم پراخه کودتائي يا نظامي محتوا او رقيب ندرلود. بلکه يو شاه وو چه هغه څو هفتې پخوا ايطاليا ته تللى وو او دوهم فاميلي سړى سردار عبدالولي وو، چه د مرکزي قواوو قوماندان وو. د هغه کور ئې محاصره کړ، وئې نيوو او بندي ئې کړ. او کله چه نور خپل پخواني آرمان ته ورسيد، نو ئې څو مياشتې وروسته خپل د آکا زوى له زندان څخه خلاص کړ ايطاليا ته ئې وليږه او پادشاه ته ئې هم د سردار اعلى په عنوان معاش مقرر کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داود خان د سیاست بازۍ یو عجیبه معجون جوړ کړی وو، چه د سیاسي ترکیب له مخې یوې خوا ته د داود خان خپل "خطاب" پروت وو چه د افغانستان خلک ئې مخاطب کړي وو (خطاب به مردم افغانستان)، او پکې د نوي جمهوري نظام د پروژو او پلان محتویات څرګند شوي وو. خو څومره چه دا محتویات د خپل وخت د یو مترقي او ملي پلان غږ وو، مګر له بلې خوا د دې پلان لاسونه ئې اکثراً هغو لاسو ته سپارلي وو چه هغوی له ماسکو سره د ملي افکارو او ملي نهضت په ضد تعهد درلود. چه دا تعهد د ماسکو د تبلیغي نفوذ له آغیزې لاندې دوی ته منل شوې عقیده وه. چه د دوی افکار ئې تر دې حده مسموم کړي وو چه په جهان کې د غرب امپریالیزم او د هیوادو دننه ملي جریانونه دواړه د سوسیالیزم او کمونیزم په وړاندې ارتجاعي او د کمونیزم او سوسیالیزم په ضد، بالاخره ناقصې پدیدې دي. دا رنګه کسان چه په نظامي چارو کې د داود خان له خوا په روسیه کې روزل شوي وو او بیرته د تحصیل په پای کې له ماسکو نه ئې خپل هیواد ته همدا ناروغي او ګمراهي راوړې وه او پدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



عقيده ئې داود خان ته کودتا کړې وه چه جمهوريت له شاهي سلطنت څخه يو مخ په وړاندې مترقي ګام دی.
مګر د ترقي آخري پړاو چه له کمونيزم څخه عبارت دی نو به د داود خان په جمهوريت کې ملي پروژې او په هغه تړلي نهضتونه ډيره وده نکوله، ځکه چه د کمونيزم په لار کې ئې خنډونه پيدا کول. او د همدې مفکورې په تعهد په افغانستان کې د پرچم په نوم حزب موجود وو او دا کودتائې افسران په سلو کې ۹۹ د همدې پرچم غړي هم وو او د همدې حزب اکثره لاسو ته ئې د جمهوريت اکثره ملي او مترقي پروژې وسپارلې. داود خان نپوهيده چه که چيرې د خپل هيواد د ملي پراخو پروژو ډوډۍ د ماسکو د تناره په اور پخول غواړي، نو پداسې ډوډۍ ئې غانبونه هم خامخا ماتيدل.
کله چه داود خان د خپل سياسي معجون نقص ته پام شو، دا پداسې وخت کې وو چه د خپل اقتدار له ګټلو وروسته ډير ژر ماسکو ته تللی وو او د دنيا د نورو هيوادو په داود خان شک راغلی وو چه آيا واقعاً ماسکو پلوه کمونسست دی، هغه هم په افغانستان کې؟ چه د کمونيزم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم د پرچم او د خلق په ګوند تمثیلیده، کوم چه دا دوه حزبونه په مطلق اکثریت د ماسکو په غلامي مشهور شوي او بدنامه شوي وو، نو آیا داود خان هم یو پرچمی وو؟ ځکه هغو افسرانو چه داود خان ته تخت او قدرت ګټلی وو په سلو کېی ۹۹ پرچمیان وو او هم داود خان د خپلو پروژو د ډیرې برخې ډیر واک د پرچم په حزب منسوب کادر ته ورکړی وو. نو داود خان چه کله خپل نقص ته پام شو چه سخت غولیدلی، نو په ډیر تلوار ئې مخ له پرچم څخه واړاوو چه دا یوه بله اشتباه وه، ځکه چه دا له ماسکو څخه مخ اړول وو. چه ماسکو داسې اشتباه منلی نشوای هغه هم پداسې شرطونو کېی چه د ماسکو او د غربي هیوادو تر منځه "سوړ جنګ" په اوج کېی وو او د یو جهاني جنګ خطر وار په وار د جهان په سر سیوری غورځولی وو چه مقصد له آتومي جنګ څخه وو. کله چه داود خان دا سیاسي مانور تر سره کاوو، مګر وخت تیر شوی وو. لکه څومره چه په افغانستان کېی دننه د جمهوریت له اعلان سره ملي او مترقي پاک نیته او وطندوسته عناصر د داود خان لاس د پرچم د حزب په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس کې لیدلی وو نو سخت نا آرامه او ناراضه شوي وو.
او له بلې خوا غرب د ماسکو په ضد په افغانستان کې د معمول له مخې د اسلام او مذهب له وسلې څخه په کار آخستلو لاس ایښی وو چه هغه د اخوانیزم زنګ وهلې چاړه وه چه ئې د فعالیت میدان ته د مذهب له کیتې راوویستله. نو د جمهوریت په ضد ئې فعالیت شروع کړ، چه هدف پکې د ماسکو او کمونیزم د بې دیني په تبلیغ تکول وو. نو له داود خان څخه چه څومره د افغانستان ملي عناصرو مخ اړولی وو، ورسره ماسکو هم مخ واړاوو او غرب او اخوان او د هغه څټ ته اسلامي هیوادو هم مخه ورنکړه. نو داود خان پداسې محاصره کې پاته شو چه دننه په هیواد کې ئې په جاسوسانو تکیه وکړه او پولیسي تشکیلات ئې د ځان د بقا لپاره وسیله وګڼله. او ورځ په ورځ ئې اعصاب خرابه کیدل چه له پخوا څخه په "لیوني شهزاده" مشهور وو، نو خپل پخوانی خصلت ئې یو ځل بیا په ښورولو شوی وو.
داود خان پرته لدې اشتباهاتو خپل دوه همسایه ګان "پاکستان او ایران" هم له ځان څخه مرور کړي وو. چه یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د جمهوریت د اعلان په لمړي خطاب کې یې د پشتونستان مسله وار له واره راواخستله. چه دا یوه خیالي نقشه وه چه ګویا پشتونستان به د کابل د حکومتونو په لاس آزادیږي. د افغانستان حکومتونو د خپل هیواد د احتیاج بار نشو وړلای نو د پشتونستان مسله خو یو خیالي طرحه وه چه د افغانستان هیڅ یوه واکدار پدې مسئله کې صادق او د زړه له کومې وفادرا نه وو. بلکه له پاکستان سره یو کشاله داره سیاسي نانذرۍ وه. بل د هلمند د اوبو او د سیستان د پخواني ناقص ویش هغه زوړ قبر چه د افغانستان او د ایران تر منځه پروت وو، نو داود خان دا زوړ قبر رالوڅ کړ. نور نو داود خان نشو کولای چه د خپلې پرله پسې اشتباګانو په سر آرام پاته شي. هره خوا به ئې چه لاس آچاوو په تش لاس به پاته شو، اوبو وړی وو، غرقیدل ئې حتمي وو.

په هغو لاسو د داود خان سینه په مرمیو سورروی سورروی شوه چه په لاسو کې ئې د روس وسلې وې او په مغزو کې ئې د روس د آیډیولوژي تعهد پروت وو. او همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کدر د داود خان په لاس په روسیه کې روزل شوي وو چه لمړی ئې تخت ورته وګاته او بیا ئې ژوند ترې واخیست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# - ۳ -

# اعلحضرت محمد ظاهر شاه

کله چه له نن څخه د پرون په لور ګام آخلو او د محمد ظاهر شاه په سلطنت پښه ږدو، نو د کابل د ارګ دننه په تخت څو واکمنانو تکیه ووهله. چه له ظاهر خان نه وروسته داود خان وو، چه په تخت ئې وینې توئې شولې. نورمحمد ترکی په همدغه عاقبت دچار شو، په تخت باندې دخپل نژدې شاګرد او همکار حفیظ الله امین په لاس یې وینې توئې شولې. او بیا تخت حفیظ الله امین وګاټه. دا سړی هم روغ او ژوندی پاته نشو، ووژل شو. پدې ځل ببرک کارمل د ماسکو په مټ وواژه. او چه کله خبره کارمل ته راورسیدله نو ببرک کارمل د ماسکو په امر روسئې ته تبعید کړل شو، چه په ژوندینې تر ډیرې مودې تری تم وو. او بیا نوبت ډاکتر نجیب الله ته راورسید، چه بیا په تیښته وتښتیده او داسې تیښته چه په ټول افغانستان کې ئې ځان ته د پناه ځای نه وو پرې ایښی، نو په کابل کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملل متحد په تعمیر کې ئې د ملل متحد له حمایې لاندې پناه واخستله. او بیا چه نن په تخت اخوان ناست دی.

رابه شو د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د تبعید کیسې ته، چه په ۱۹ کلنی هغه وخت په تخت کشیناست چه بیا هم دا شوم تخت د ظاهر خان د پلار په تویوو شوو وینو لوند وو. لا یو خام ګوټی ځوان وو چه په تخت کشیناست. ظاهر خان له داسې تخت نه هم کرکه کوله او هم د پلار د وژنې ډار ئې په زړه کې وو. مګر ترونو ئې مجبوره کړ چه پاچاهي ومني. نو ئې د ظاهر خان په تخت باندې د محکم ساتلو په مقصد د حکومت واګې دوی په خپلو لاسو کې مضبوط ونیول. مګر ظاهر خان د خپل پلار د وژلو حادثه تر ډیره وخته د ډار په بحران کې په ځان کې وساتله، نو لا له هغه وخته ئې چرسو ته پناه ویوړله. او آکا ګانو ئې د ساعت تیری هر څه ورته مساعد کړي وو، چه بیا ئې پاریس ته د افسري اکاډمي تحصیل ته واستاوو. ظاهر خان د کله کله لمونځ کولو په څنګ کې د مطالعې سره یې هم ډیره مینه وه. د مطالعې داخلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مضامین ئې بالخاصه د امیر عبدالرحمن خان له سترګو
څخه د افغانانو د پیژندنې موضوع د ظاهر خان لپاره یو
آموزنده مطلب وو. چه بیا د همدې موضوع په ارتباط هم
ئې د امیر عبدالرحمن د پاچاهـي تاکتیک ځان ته پند
ګرزولی وو، چه دا پند او ظاهر خان ته لوی درس د امیر د
نصیحت نامه او یا وصیت نامه په نوم د هغه امیر د
تجروبو غنا وه. چه آیا امیر له شلو کلو زیات پاچاهـي نه
وروسته بالاخره څرنګه یوې نتیجې ته رسیدلی وو چه خلف
ئې باید څرنګه لاره غوره کړي. آیا لکه خپله امیر چه په
توره، زندان، جاسوس او قهر ئې تکیه کړې وه؟ آیا
راتلونکو به هم د هغه امیر توره په لاس کې آخیستله؟ او
که نه د وصیت نامې بالخاصه دریمه ماده به د ظاهر خان
لپاره د پاچاهـي کولو د لارې شمه ګرزیدله او هغه ماده دا
وه:

– زما په فامیل مربوط راتلونکی خلف به "خپل هیواد
ته پداسې سترګو ګوري چه په هیواد کې ټول خلک خپل
اتحاد وساتی شي. او په منځ کې د مذهب او د قام فرق
او بیلتون تله په مذهبي او قامي نفاق د راتلونکي شاه په
لاس پورته نشي. او هیڅ قام ته له بل قام نه او هیڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مذهب ته له بل مذهب نه باید امتیاز او ترجیح ورنکړل شي. شاه باید له ټولو خلکو سره بې له کوم تبعیض نه یو شان معامله وکړي، چه وکړای شي د اولس اتحاد وساتي ...". ګرچه دا وصیت یې رسماً تګ لاره کړه، مګر قومي برتري تر ډیره په عمل کې پاته شوه.

او د وصیت نامې څلرمه ماده:

"ددې مقصد د ساتلو موضوع د شاه لپاره یو اساسی هغه مطلب دی چه باید پوه شي چه آیا د اولس اتحاد او وحدت څرنګه ورانیږي؟ دا اتحاد له دننه شاهي خاندان څخه ماتیږي. پدې شرط چه نامزد شاه که چیرې د دولت واګې د خپلو زامنو لاسو ته په عسکري برخه کې وسپاري، نو د شهزادګانو تر منځه په عسکري مټ او قوت جنګ راځي او د اولس د اتحاد شیرازه شکیږي... ".

پنځمه ماده:

"ټول کارونه به د قانون له مخې کیږي، شریعت د آخرت د کارو خبره ده..".

شپږمه ماده: "شاه باید پوه شي چه اولس ئې څوک دي؟ چه کله ئې خپل اولس وپیژانده نو به د ترقي لاره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدارا او په تدریجي توګه، مګر په غور تطبیق او تعقیبوي، هر ګړندی ګام مخې ته لویدل لري...".
اوومه ماده: "هر مهم کار به په مشوره شروع کیږي".
امیر عبدالرحمن خان د مشورې لپاره هغه مشاورین چه شاه ورسره مشوره کوي په دریو حصو تقسیموي.
یو: له خانداني مشرانو او سردارانو سره.
دوهم: د قام له خانانو سره، کوم چه د دوی په منځ کې مشورې ته د قام خاص مشران ټاکل شوي وي.
دریم: مذهبي کسان.
"لاکن بیا هم داسې کسان لا تر اوسه کافي درجې او لیاقت ته رسیدلي ندي، نو ځکه شاه به خپله د ښو او بدو تر منځه د انتخاب لیاقت تر لاسه کوي. او بالخاصه د اردو قبضه به د نا اهلو کسانو لاسو ته نه سپاري او مخالیفونو ته به واک نه ورکوي ...".
اتمه ماده: "شاه باید اصلاحات طلب وي، مګر نه چه په خلکو کې د منفي هیجان علت وګرزي. او مخالفینو لاس کې تبلیغ شي نو به په شمار او کرار ګام آخلي".
نهمه ماده: "د افغان نسل ته د فرنګي تحصیلاتو لاره تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



آخره پورې خلاصه پرېښودل زما د راتلونکي خلف وظيفه ده. او ما يواځې دا وکړل چه د افغانستان سرحدونه ټينګ په توره داسې وټاکم، داسې کرښه تيره کړم چه ورانول ئې د کوم غليم په خيال کې آسانه کار نه وي. او ما دوهم کار چه وکړ هغه دا لړمان مې ليرې کړل. د چا مې سر وزابه د ځينو لړمانو مې لکۍ ورپرې کړې. نو دا دوه لمړی مادې ما تر سره کړې، راتلونکي مادې به راتلونکي تر سره کوي... ". تاج التواريخ، دوهم جلد، ٢١١ پاڼه.

اعلحضرت ظاهر خان چه کله په ځان د "توکل په خدای، (المتوکل على الله)" لقب کيښود، نو ئې واګې په لاس کې ونيول او د خپل فطري او ذاتي خوی له کبله له پاچاهي نه زيات د ملنګي په سلوک او په نرم ګام آخستلو د واکداري په لاره رهي شو. پوهيده چه له څرنګه خلکو سره مخامخ دی، نو د ځان حفاظت او د افغان د خلکو د کرکتر او خوی دوه مهم اصل ئې سره نژدې کړل. او د خپلې پاچاهي همدا سلوک ئې تر آخره د يو مهم پرنسيب

(c) ketabton.com: The Digital Library



په توګه په نظر کې ونیوو او مراعات ئې کړ چه همیشه به نرم ګام آخلي.
بل داچه اعلیحضرت ظاهر خان د مطالعې موضوع له افسري نه زیات فلسفي او تاریخي مضامین وو، چه فرانسوي ژبې پدې لاره کې زیات کومک ورسره وکړ، چه د خپل خوی په تناسب ئې نرم مضامین خوښول، ځکه نو شخصي ذوق ئې هم د "موزائیک" هنر وو. چه ځینې خالي وختونه به ئې په همدې مشغولا تیرول.
هیڅ بل پاچا به په افغانستان کې لکه محمد ظاهر شاه داسې په دو مخالفو تیزو د قضاوت په تله کې هم په سپاس او هم په نفرت تللی شوي نه وي، لکه کوم چه همدا شاه له همداسې قضاوت او له همداسې تهمت او تقدیر سره مخامخ شو. دا ځکه چه علت د زمانې په سترګو ارتباط لري، چه آیا د ظاهر خان د ښه او یا بد په هکله د قضاوت تله د زمانې په کومه تیزه پورته کیږي. او یا د کومې زمانې له سترګو ظاهر خان مطالعه کیږي؟ نو به بیا هغه وخت اشتباه ته کم ځای پاته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظاهر خان ته د یو داسې هیواد واګې سپارل شوي وو چه د نیمې پیړۍ نه لا هم زیات وخت د افغانستان په اعمار او آبادي کې بې له موثر ا قدام څخه وخت یا په هرج مرج کې تیر شو، چه د سقاو د زوی "حبیب الله کلکاني" پاڅون له ځان څخه د جنګ وراني پریښودله. یا د امان الله خان د پلار د وخت د بې حرکته "په ما څه" ذهنیت محافظه کاري مرحله په افغانستان کې خالي تیره شوه. چه کله د ظاهر خان په اوګو د یو خالي افغانستان بار کیښودل شو دا له انکار څخه لیرې حقیقت دی چه ظاهر خان پدې خالي وطن کې د تقدیر وړ خذمتونه د دې هیواد د شرطونو د هر اړخیزې مطالعې په نظر کې نیولو سره سر ته ورسول. که دا د معارف په حصه کې وو او که د خلکو د افکارو له آزادي څخه د فیض او تربئې آخستلو د تدریجي خوځیدو له پاره پرانستل شوو لاره وه، چه د اوږدو هدفونو په مطلب په نظر کې نیول شوې وه او په عمل کې د دې لارې اعمار پیاده شوی وو. دوطن په لیرې ترینو او انزوا ترینو ځایو کې دپوهې د لمړۍ تیزې او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



معاصر علم د آرمان د پوره کیدو تهدابونه کیښودل شول چه هغه ابتدائي مکتبونه وو.

خو ظاهر خان ولې منفوره شاه او عطول واکدار وو؟

دا بله تیزه وه او دا بله سترګه وه او دا یو بل غږ وو چه ظاهر خان ئې په همدې تله تاله. دا سترګې د سوسیالیزم د جریان سترګې وې، د کمونیزم تیزه وه. او هم بې لدې چه د ظاهر خان غاړې ته څرنګه افغانستان له پرون څخه لویدلی وو، چه دې رنګه سترګو د افغانستان پرون او د افغانستان د خلکو د سواد د ژوند ذهني شرطونه نه لیدل. بلکه د همداسې سترګو خاوندانو خپلې سترګې هم نه لیدلې چه افغانستان د کوم مقصد لپاره ویني. او دې سترګو خپلې سترګې هم نه لیدلې چه د ظاهر خان په پاچاهي کې دومره د لیدلو شوې وې چه بې د ژبې له بیان څخه نه وې او د افکارو له آزادي سره یو ځای لوځې شوې وې. نو معلومیده چه ظاهر خان په ژبو د دیکتاتوري زولانې ندي ایښي. مګر دا چه په هغو سترګو او ژبو کې د کوم مقصد لپاره څه پراته وو او ولې کږې شوې وې نو ګناه د هغه وخت د شاه نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که چیرې بیا دا د نن ورځې د ورانۍ، د قتلونو، د چور، د نابودۍ غږ رامنځ ته شي، هغه وخت به دا حقیقت میدان ته راووځي چه دا ټول وران شوي علمي ذخیرې او د ژوند مادي بنیادونه د ظاهر خان، د هغه بد شاه، د هغه عطول او منفور شاه د جهد او تلاش د لاس نښې وې چه نن ټول نسکور پراته دي. او د نیم عصر تلاش او میراث وسوزیده چه حتی نن له یوې کوڅې نه بلې کوڅې ته تګ د مرګ له تهدید لاندې د افغانانو ژوند د وحشت په تابوت کې میخ شوی او محدود کړی دی چه د افغانستان په پایتخت یادیږي.

ځکه نو د دې خاورې اوسیدونکي افغانان د خپل تاریخ د مختلفو مرحلو په آینه کې د خپل ځان او د خپل وطن د پیژندلو ضرورت او مسئولیت لیدل په واقعیت کې د یو تاریخي قضاوت تله پورته کول هم دي. نو بیا هغه وخت به نور د ړندو سترګو مزل نه وي چه پدې پوه شو چه که د آزادۍ غوښتلو آرزو د یو ملت د بقا آرزو او لوړ آرمان دی، مګر که چیرې له همدې نعمت څخه د شومو مقصدو وسیله جوړیږي ګناه د آزادۍ نده. لکه څرنګه چه د مکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلامانو او ماسکو غلامانو د ظاهر خان د وخت له آزادي څخه د وطن او خاورې په ضرر او دښمنۍ ګټه پورته کړه. او جوړ شوو حزبونو افغانستان ته د پردیو لاسو د غلامي ځنځیرونه راوړل. او چه هغه ساتل شوې شیرازه چه پدې هیواد کې لکه د نن په شان د هزاره، ازبک، تاجک او پښتون تر منځه د اسلامي احزابو په کین ماته شوله، ماته شوې نه وه. چه دا هم د ظاهر خان له ژبې آوریدل شوې د هغې ورځې خبره ده چه ویل ئې:

"زه طبیعتاً د یوې داسې سرې دروازې مخالف یم چه د وطن په مخ داسې پورې شوې وې چه څوک ئې له دننه څخه آواز نشي آوریدلی چه هلته څه تیریږي. که نوم ئې کمونیزم وي او که سوسیالیزم مهم نده. او هم هغه شنې دروازې لکه د امریکا په شان چه په مخ خلاصې پاتې دي، داسې دروازې هم قلباً د افغانستان لپاره نغواړم چه یو قلف او کیلی ونلري...".

نو د ظاهر خان د وخت د افغانستان د تاریخ هغې مرحلې که د آتوم د تخنیکي پوهې او د ساینس علم ندرلود، نو ظاهر خان واقعاً بد وو، مګر د افغان مینډې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خویندې د تاریخ په هغې مرحلې کې هیڅکله سرتورې شوې نه وې، او په هیواد کې د ظاهر خان په قلم او امضا د یوه افغان د وینو تویه ولو فرمان هیڅکله صادر شوی نه وو، کوم چه د ماسکو او بیا د مکې د غلامانو په لاس د خلکو وینې توئې شوې او د افغانانو خویندې او میندې سرتورې شوې. ځکه نو داسې جنایتونه او وحشت ته ورسیدلو چه د پرون په آرمان پاته شولو. او سر له نوي څخه ئې د قضاوت نوې تیزې ته ئې په پام کړلو چه دا د پیژندلو د بیا شروع درس او نوې درسخانه هم ده ګوندې ځان وپیژنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# - ۴ -

# محمد نادر شاه

د ظاهر خان پلار نادر خان د سردار محمد یوسف خان زوی وو. او د هغه پلار سردار یحی خان نومیده. او د هغه پلار سردار سلطان محمد خان وو چه پلار ئې پاینده خان وو "چه د زمان شاه وزیر وو“. او پاینده خان د حاجي جمال خان زوی وو، چه دا حاجي جمال خان د ابدالي احمد شاه د قوماندانانو له جملې څخه وو.
تر آمان الله خان پورې د کابل تخت د امیر دوست محمد خان له ګنډې څخه منسوب کسانو او وارثانو په لاس کې وو، چه د نادر خان له پاچاهـي سره دا سلسله ختمه شوه او د هغه په ځای د امیر دوست محمد خان د وراره سردار سلطان محمد خان چه د نادر خان غور نیکه کیږي دا سلسله جاري شوه. او ځکه نو د سردار یحی خان او د هغه د زوی سردار محمد یوسف خان ژوند په برطانوي هند کې تیر شوی دی. کله چه انګریزانو ته امیر دوست محمد خان تسلیم شو نو انګریزانو د دې کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول غړي هند ته تبعید کړي وو. ځکه نو نادر خان په هند
کې وزیږید او کله چه په ۲۵ کلني افغانستان ته راغی د
امیر حبیب الله خان له خوا په اردو کې وظیفه ورکړل
شوله. چه بیا سپاه سالاري رتبې ته لوړ شو. او کله چه
آمان الله خان په تخت کشیناست نو نادر خان ئې د
خوست د قول اردو قوماندان مقرر کړ او د استقلال د ګټلو
په کال ۱۹۱۹م نادر خان د خوست د اردو او د پکتیا د
قامونو په قوت ژوب، وانه او ټل ونیوو. بیا نادر خان په کال
۱۹۲۱م تر ۱۹۲۴م پورې د دفاع د وزیر په توګه وظیفه
اجرا کړه. او بیا د امان الله خان له خوا په سفارت
فرانسې ته واستول شو. او له ۱۹۲۴م نه تر ۱۹۲۸م کال
پورې په پاریس کې په همدې وظیفې پاته شو.
نادر خان هغه وخت له فرانسې نه بیرته افغانستان ته
راغی چه د سقاو زوی حبیب الله خان چه په "بچه سقاو"
مشهور دی، له امان الله خان څخه په ډیر کم قوت تخت
نیولی وو او امان الله خان په تیښته ایطالیا ته تښتیدلی
وو. کله چه نادر خان د سقاو د زوی په ضد د جنګ جبهه
د پکتیا له ولایت نه جوړه او شروع کړه، د سقاو د زوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچاهي پوره يو کال ته ونه رسيده. ځکه چه د پکتيا خلکو د کابل په نيولو کې يو عمده رول ولوباوو او نادر خان ئې د کابل په تخت کشيناوو.
نادر خان چه کله د کابل تخت ته نږدې شو، حبيب اله کلکاني ارګ پريښود او کوهدامن ته وتښتيد. مګر نادر خان راوغوښت او د قران په پاڼه ئې دستخط شوی سند ورولیږه چه "تا ته به زه هيڅ کومه ترخه خبره لا هم ونکړم. ته ښښل شوی ئې، غواړم چه د سولې لاسونه له نږدې څخه يو او بل ته ورکړو". حبيب الله خان قران ښکل کړ او له خپلو نژدې يارانو سره ارګ ته راغی او نادر خان ته تسليم شو. نادر خان ورته وويل "چه ما خو ښښلی ئې، مګر دلته هغه خلک په تا دعوا ګير دي چه وائي زموږ مالونه، سر او ځان ته د حبيب الله خان له لاسه تاوان رسيدلی دی". نو د ننني حضرت مجددي پلار چه عموماً دا حضرتان د کابل په شور بازار کې اوسيدل، نو د شوربازار حضرت دا فتوا ورکړه چه "محمدي شريعت حکم کوي چه بايد حبيب الله خان کلکاني اعدام شي". او په کال ۱۹۲۹م او د همدې کال په يولسمه مياشت د کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلکو په مخکې په ننني حضوري چمن کې له پوښتو څخه سر په څېرې په دار ځوړند شو او شاوخوا د توپکو خولې پې راکوزې شوې او سوروی سوروی شو.
همدغه کال د نادر خان د پاچاهي نیټه هم ده ( کال ۱۹۲۹م یولسمه میاشت ، دریمه ورځ). ځکه چه یو مهم رقیب ئې له منځه وړی وو. مګر بیا وروسته نادر خان هم آرام پاته نشو، ځکه چه څو تبلیغي جریانونو هدف ګرزولی وو چه له هغې جملې څخه یو دا وو چه:
نادر خان چه کله افغانستان ته داخل شو هغه لمړۍ خبره ئې دا وه چه "زه د تخت لپاره افغانستان ته راغلی نه یم چه ځان پاچا کړم، بلکه زه د امان الله خان تخت بیرته د هغه چا له لاسه ګټم کوم چه هغه یو غل دی او تخت ئې غصب کړی دی". دادی چه اوس ئې خپله خبره هیره کړې وه. که نه خو خلک چه پاڅیدل او د نادر ملا ئې وتړله مقصد آمان الله خان وو. او خبره د امان الله خان دمترقي پلانو د پاته برخو دوام وو.
دوهم جریان دا وو چه نادر خان د سرحد پښتانه لدې څخه منعه کړي وو چه په انګلیسي چوڼیو حملې وکړي. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار د دې تبلیغ سبب شو چه خلکو به ویل چه نادر خان ټول ژوند د انګریزانو تر څنګ په برطانوي هند کې تیر کړی دی، ځکه نو دا سړی د انګریزانو پټ دوست او ملاتړ دی.
او پدې وخت کې چه په شوروی اتحاد کې "ستالین" د قهر، فشار او کمونستي رژیم د غضب په واکداري کې وو او انګریزان ئې د کمونیزم سرسخته دښمنان ګڼل، نو روس هم له نادر خان نه کرکه راتله او مشکلات به ئې ورته پیدا کول. چه له هغې جملې څخه په افغاني ترکستان کې ئې د "لکای - یا لقی" ترکمن قام د کمونستانو په اشاره مرکزي حکومت ته پورته شو او زیات جنجالونه یې پیښ کړل او دولت ته ئې د زیاتو مصرفونو تاوان او زیانونه ورسول.
دریم جریان او تبلیغ دا وو چه نادر خان چه څومره تخت ځان ته کړ، هومره ئې هم د امان الله خان مترقي او معاصر ټولو نهضتونو باندې سترګې پټې کړې.
په حقیقت کې دې درې واړو جریانو واقعیت درلود او هم ئې علت درلود. ځکه چه نادرخان چه څومره په وجودي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لحاظ یو مریض او میزوب انسان وو، هومره هم معناً د افغاني ټولنې د پیشرفت له آرمان څخه وتلی شخص وو. یواځنی مقصد ئې د تخت ساتنه وه او د خپل فامیل رفاه په لمړي قدم کې وه. بهانه دا وه چه "امان الله خان ګویا اشتباه وکړه چه سریع ریفورمونه او اصلاحات ئې پیاده کړل او تخت ئې له لاسه ورکړ ... ". مګر دا ئې نه ویل چه تخت له لاسه ورکول علایده خبره ده، مګر د افغانستان د پیشرفت او له احتیاج حالت څخه ویستل او همدا ارمان له لاسه ورکول بیله خبره ده. چه که هر شاه تخت وساتي پدې بهانه چه پیشرفت تخت ته ضرر رسوي، نو بیا هغه وخت د وطن غمه به کوم شاه او څوک او څه وخت خوري؟ نو د نادر خان په وخت کې وطن د رشوت یو میدان ګرزیدلی وو، چه هر حکمران او دولتي مامور د خلکو په هډوکو غابښونه کیندل. چه څو څو واره د افغانستان په مختلفو ولایاتو کې خلک د ظلم، بې عدالتي او رشوت له لاسه او د دولت له ستم څخه په قیام پاځیدل. مګر نادر خان یو خاص نظامي قوت روزلی وو چه په موټرو "عسکري لارۍ" کې به ئې دا قوت سپاره کړل، ۴۰ تر ۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټرې به ئې په زيات قوت ښودلو هغو ولاياتو ته د خلکو د سرکوبه ولو لپاره واستولې. چه دې ظلم به له خلکو پخوانی ظلم له ياده ووېست او جبراً به غلي شول.
نادر خان يوه کچه لاره او کچه ژبه هم ورځ په ورځ د سل د مضمن مرض په شان په نا آرامي حالت کې او د دولت په چارو کې شريکه کړه. حتى هغوی چه نادر خان ته تخت ګټلی وو د هغو قوتونو له مشرانو سره ئې هم کچه رويه راواخستله چه ورځ په ورځ يو بې باوره منفي شخصيت ترې جوړ شوی وو. او اکثراً کنځلې به ئې خلکو ته په اردو ژبه کولې، کوم خلک چه د ده د دربار د مشاورينو له جملې څخه وو. چه پدې وخت کې څلور کاله تير شول، مګر پنځم کال ته نادر خان ونه رسيد چه پاچاهي وکړي.
ځکه چه د نادر خان ټول حرکات د وخت د تقاضاوو په ضد پياده شوې وې. هغه علمي، عمراني تګ لاره چه امان الله خان د پاچاهي شعار ګرزولی وو او د ډيرو روشن بينو افغانانو په زړونو کې ئې ځای نيولی وو، خلکو ته د يو عدالت او پيشرفت اميد پيدا شوی وو، چه لا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان کې د کمونيزم يا دې ته ورته د ماسکو د لاس وهلو آيډيولوژيکي تګ لارې انحراف اصلاً موجود نه وو. هر څه چه وو يو ملي آرمان او يو مترقي آرزو وه چه آمان اله خان ټينګه ملا ورته تړلې وه. چه بهترين مثال ئې دا وو چه په هغه وخت کې خلکو به دا ويل چه "جاپان او افغانستان يو ځای د پيشرفت په لاره ګام کيښود، مګر افغانستان ولې د معاصر تمدن او معارف له کاروان څخه په شا پاته شي ...". حال دا چه دا شعار پدې آيډيولوژيکي تبليغ لا چټل شوی نه وو چه لکه داود خان او يا ظاهر خان په وختونو کې د پيشرفت لپاره روسيه وښودل شي، کوم چه آيډيولوژيکي ګمراهي پټ هدفونه د روس په طرفداري د ماسکو طلبه حزب له خوا تبليغ شي او اخوانيزم ته د کمونيزم د الحاد بهانه په لاس ورشي. نو په همداسې شرايطو کې ډيرو افغاني روشن ضميرانو د خپل وطن د تعالي په آرمان د امان الله خان لاره دوباره غوښتله چه د نادر خان په سرکردګي په افغانستان کې ژوندی شي او ژوندی پاته شي. چه له داسې روشنفکرانو څخه د امان اله خان د ملي او مترقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهضتونو له باوري يارانو څخه يو غلام نبي خان وو، چه بيا سفير هم مقرر شوی وو. او همدې غلام نبي خان نور زيات پلويان هم درلودل چه د امان الله خان په ليکه ئې لاسونه په تعهد ايښي وو چه وطن بايد آباد شي. نو کله چه غلام نبي خان د سفارت وظيفه پريښودله او وطن ته راستون شو چه مقصد ئې هماغه پخوانی مطلب وو، مګر په نتيجه کې نادر خان ته شک او ترس پيدا شو. ډاريده چه تخت له لاسه ورنکړي. نو يوه ورځ ئې غلام نبي خان دربار ته وغوښت، مګر غلام نبي خان ځواب ورنکړ. په دوهم ځل ئې هم دا بې ځوابي او چوپتيا وه. په دريم ځل نادر خان قران مهر کړ وروئې ليږه چه " که ته له مانه شک لرې زما او تا په منځ کې قران دی. او که ته د امان الله خان اصلاحات غوښتونکی او د امان الله خان نژدې ملاتړ دوست وې، نو زما دوست هم ئې، ځکه چه زه هم په مناسب فرصت کې غواړم چه پخواني اصلاحات ژوندي او پياده کړم. نو که دلته دربار ته راشې چه دوه په دوه پدې هکله له نژدې څخه تفاهم ته ورسيږو ښه به وي...".

(c) ketabton.com: The Digital Library



علام نبي خان څرخی قران ښکل کړ، مګر بیا ئې هم د یوې دستکشې په دننه لستوڼي کې تپانچه هم له ځان سره پټه واخستله، ځکه چه په نادر خان ئې هیڅ باور نه وو. او کله چه د غلام نبي خان د آس ګاډی د ارګ له دروازې څخه دننه شوه، نو غلام نبي خان ځان په محاصره کې ولید او د نادر خان دربار ته ئې بوته. او د نادر خان له خوا یو په یو له کنځلو سره مخامخ شو او هغه لمړی د څپیړې وار ئې د نادر خان له ریږدیدلو ناروغو لاسو څخه په خپل مخ وخوړه. او بیا ئې د غلام نبي خان د وهلو امر ورکړ چه شاوخوا نفر مخکې له مخکې وژلو ته درول شوي وو. او چه کله د غلام نبي خان د مخ غوښې په وهلو چودلې د زلکدن په وخت کې ئې دا خبره نادر خان ته وکړه چه "افسوس پدې پاکې خاورې! چه له خیانت څخه دې خاورې د خلاصون طالع پیدا نکړې ...".

او نادر خان د ۱۹۳۳م کال د یولسمې میاشتې له هغې ورځې چه نادر خان حبیب الله خان وژلی وو، پنځه ورځې وروسته ووژل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یو ځوان هلک وو او عبدالخالق نومیده چه هم د غلام نبي خان له افکارو څخه ئې د امان اله خان د وطندوستي درس زده کړی وو او تر لیسې پورې ئې تحصیلات سر ته رسولی وو. او هم دا مینه او وینه سره د عبدالخالق په رګونو کې ګډه شوې وه او د غلام نبي خان غچ ئې لا له وړکتوب څخه ځانته کسم ګرزولی وو. بالاخره ئې دا کسم سر ته ورساوو او نادر خان ئې پداسې وخت کې په هغه توپانچه درې مرمۍ په سر او مخ وویشت، کوم چه دا تپانچه به تل د غلام نبي خان د کټ په سر ځړیدله. او دا داسې وخت وو چه عبدالخالق په یو لوی پلان ځانته جوته کړې وه چه څرنګه نادر خان ته له نژدې ځان ورسولی شي. نورې ټولې لارې ئې بندې لیدلې، یواځې یوه لاره پاته وه چه عبدالخالق ځوان به ئې خپل آرمان ته رساوو او هغه اول نمرګي وه. ځکه چه نادر خان به د هغه وخت د لیسې اول نمرګانو ته په خپل لاس انعام ورکاوو. نو عبدالخالق اول نمره ګي ګڼلې وه، د خپل صنف اول نمره شوی وو او د نادر خان خوا ته ئې ځان رسولی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# - ۵ -

# د سقاو زوی حبیب الله خان

د افغانستان په تاریخ کې د سقاو د زوی "حبیب الله خان کلکاني" څېره یو ځانګړی داستان لري چه مرموز پاته اړخونه ئې سم لوڅ نشول. ځکه چه یو خو د افغانستان د تاریخ لیکونکو د قلم واک له ډیره پخوا څخه له هغه دولت لاندې پاته وو کوم چه د دولت واک د یو خاص خاندان "محمدزیو خاندان" په انحصار کې وو. دوهم دا چه نادر خان هم چه څومره د امان الله خان د نهضتونو په ضد د هغه شاه ډیر کړه وړه ئې تحریف کړل، آن تر دې چه د افغانستان د استقلال د حصول په بهیر کې ئې خپل ځان ته د یواځني استقلال ګټونکي نوم او نشان هم ورکړ. چه ئې پدې باره کې تاریخ نویسان تشویق کړل او ځینې کتابونه ئې په خپله ګټه په هغوی ولیکل. هومره هم نادر خان ډیرو لیکوالانو ته دا اجازه ورنکړه چه د سقاو د زوي د پاڅون ټول تفرعات سره له انګیزو او حالاتو په تاریخي مسیر کې په بیطرفه توګه له واقعیتونو سره یو ارتباط او یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیوند ته نژدیکړي او وئېی لیکي. او بیا چه د افغانستان د تاریخ هماغه ځانګړې مرحله لکه د نورو مرحلو په شان ځانته ورته موقف ونیسي.
مګر هغه څه چه د سقاو د زوی له وخته د خلکو په حافظو کې پاته شول دا معلوموي چه حبیب الله خان چه څومره یو ساده غل نه وو، مګر یو پوه پاچا هم ترې جوړ نشو. خو د عزم او تصمیم او ارادې یو پوخ څلی وو.
دا سړی د شمالي د کلکانو وو. دا چه څه وخت زیږیدلی، ژوند ئې څرنګه تیر شوی دی، بې له تاریخي سندونو څخه پاته پوښتنې دي. که د ده د یارانو له خوا ئې د ژوند سرنوشت هم لیکل شوی وي، مګر لا تر اوسه د یو داسې کتاب په چاپ شوو پاڼو د چا سترګې ندي لګیدلي چه د نورو لوستونکو د لوست او زدکړې موضوع وګرزي. چه دا پخپله د افغانستان د تاریخ د یوې مرحلې تیارې ته اشاره هم ده چه باید تیارې د تاریخ له مخه لیرې شوې وای. دا ځکه چه تاریخ تش یو څو نومونه او یو څو نیټې ندي، بلکه هر نوم او هره نیټه د پیښو په ریښو کې چه څومره خپل خپل ځای لري هومره هم د تاریخي مسیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د منطق روحیه یوه مجموعي تابلو رامنځ ته کوي. او همدا رابطه او پیوند دی چه تاریخي حادثې د لوستونکي لپاره تاریخي درسونه گرزي. او د داسې درسونو په مطالعه له تاریخ پیژندنې سره یو ځای ځان پیژندنې ته ځان رسوي چه بیا وکړای شي په ماضي کې تیر شوي د دردونو لاره بیا د سبا د نورو دردونو لپاره د ژوند لاره نشي.

نو ځکه د حبیب الله پاڅون سره سخته جفا شوې ده.
برعلاوه چه څومره د کلکاني په ژوند محلي افسانې تړل شوې دي، هومره هم دغو افسانو د تاریخي حقیقتونو د پوهیدو او د لوڅیدو په مخکې په خنډ او په تیارو آووښتي دي. کوم چه افسانې او تاریخ په همدغه ځای کې یو له بل څخه بیلیزي او افسانې د تاریخ واقعیت ته پوره ضرر هم رسوي. ځکه نو دا پوښتنې بې له تاریخي ځوابو څخه پاته دي چه:

۱. که چیرې د سقاو زوی یو محلي غل وو، نو د یو محلي غله څرنگه د پاچاهي نیولو ته پام شو؟
ځکه چه یو غل مفلس وي، او کولای شي چه د پاچاهي لارې ونیسي او له پاچاهي خزانو او یا ثروتونو څخه غلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي. نه چه یو مفلس انسان پاچاهي ونیسي، هغه هم چه لاسونه ئې تش وي. نو خپلو یارانو ته د پاچاهي د نیولو په لار کې په تشو لاسو کوم کومک ورکولای نشي. ځکه چه داسې پلان یو لوی مصرف غواړي. نو دا مصرف د سقاو زوی په کومو پیسو کاوو؟ او دا پیسې کومو لاسو او د کوم مقصد لپاره ورکړې وې؟ چه کم له کمه د خپلو یارانو لپاره ډوډۍ او وسلې تهیه کړي.

۲. که چیرې حبیب الله خان کلکاني د محمدزیو د خاندان بې پروائي او بې کفایتي پدې خاطر هدف ګرزولی وي چه د افغانستان ځای پر ځای پاته بې علمه او بې ترقي حالت ته تغیر ورکړی، نو پوښتنه به دا وي چه آیا کلکاني څومره تحصیل درلود؟

۳. او که چیرې کلکاني د امیر امان الله خان د ترقي ارمان او د وطن د پیشرفت پلانونه او تلاشونه کفر او بې دیني ګڼله، نو غل خو هم چندان په دین یقین نلري. او که خبره د دین او بې دیني نه وه، نو کلکاني چه کله په تخت کشیناست دا ئې ونه ښودل چه کومې انګیزې دې ته وهڅاوو چه په هغه انګیزه کې د افغانستان راتلونکی چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا د علمي لا روښانه مسير ونيسي او يا خلکو ته سر له نوي خپل دين ورزده کړي؟ او تير دين منسوخ اعلان کړي؟ او ووائي چه تر اوسه ستاسو دين ټول غلط وو، که حقيقي دين غواړئ نو له ما پسې راځئ.

مګر د امان الله خان د معارف پروري نهضت په عموم سره او د کلياتو د ژورو ريښو له مطالعې سره په ارتباط دا څرګنديږي چه امان الله خان يو با درده، نيک انديشه داسې انسان وو چه د وطندوستي لوړو احساساتو تر خيال پرستي درجې پورې رسولی وو. چه بيا همدغې خيال پرستي د شاه ټول پلانونه پړمخې واړول چه يو ئې د عسکري قواوو په نظر کې نه نيول وو. امان اله خان د ښه نيت يو آرمان درلود چه د عسکري قواوو او د جاسوسي تشکيلات له اردو څخه ئې سخت بد راتلل. يوه پاکه کليمه ئې په ژبه او زړه کې وو چه هغه د "معارف اردو" وه. کوم چه امان الله خان د همداسې يوې نيرو د رڼا په وسيله خپل وطن له بربادی او جهالت څخه د ويستلو وسايل تهيه کول غوښتل. ځکه نو اردو که پاته هم وه، د هغه اردو يوې برخې چه د کابل د پايتخت نژدې شاوخوا کې پرتې وې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل نارضايتي له کبله له حبيب الله کلکاني سره د ارتباط لارې پيدا کړې وې، چه بيا ئې بې له کوم مقاومت څخه کلکاني ته تسليم شولې او زياتې وسلې ورسره وې.
مګر خبره بيا هم پوره نه لوڅيږي، ځکه چه کلکاني ته چا ويلي وو چه پاچاهي ونيسي؟ دا پوښتنه کولای شي چه د يوې مهمې کيلی په شان نورې پوښتنې هم د ځواب موندلو په مخ خلاصې کړي. که څه هم دا شايعې شته چه انګريزانو چه کله ملايان د امان الله په ضد له هڅولو وروسته بسيج کړل نو د سقاو د زوی ارتباط هم له همدغه تبليغي تشکيلات سره پيدا شو. مګر دا چه دغه تشکيلات د سقاو زوی وموند او که د سقاو زوی دا تشکيلات پيدا کړ معلومه نده. او علت ئې داسې افاده کيږي چه امان الله خان چه کله د انګريزانو په مقابل کې د استقلال ګټلو قيام وکړ، انګريزانو امان الله خان هيڅکله ونه بانښه. خو داسې يوه بنيادي خبره د يو منطق له محتوا څخه تائيد کيدلی نشي، ځکه چه د هغه وخت ملي احساسات پکې پراته وو. هغه هم پدې علت چه افغانستان تر زياتې مودې د انګريزانو له سياسي تسلط لاندې پاته شوی وو او هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



بد ئې د انګریز له خوا یوه شیطاني مداخله ګڼله. مګر د هغه په ځای د تاریخي هغه منطق چه لا تر ننه پاته او د مطلب اصلي بنیاد جوړوي هغه مذهبي ارتجاع ده. چه کله افغانستان لږ څه د علم په لاره او یا د یو ملي حرکت لپاره د معارف د څراغ پلټې لګولو ته ملا تړلې، نو په هر ځل ئې همدا د مذهبي ارتجاع ناولې پدیده مخې ته دریدلې ده. هغه هم پداسې حالاتو کې چه آمان الله خان چه څومره د افغانستان د تیرو ټولو خوبونو او تیارو مخې ته یو په یو په ډیر سرعت د علم څراغ ولګاوو، نو هومره ئې د دې پاڅیدلي ملي او علمي آرمان مخې ته پراته ارتجاعي خنډونه په هیڅ کې ونیول. ځکه چه نه یواځې چه ملایان بالخاصه په چپنو په پګړیو په مکافات په پیسو او په خوړلو آموخته شوي وو، مګر آمان الله خان برعکس په خپل دربار کې لکه چه تیرو شاهانو او امیرانو نازول، مګر نه یواځې چه ونه نازول بلکه غوښتل ئې هغوی هم د پګړیو په ځای سمې خولۍ او د چپنو په ځاسی دریشی واغوندي او د وطن لپاره یو مؤثر او مثبت کار وکړي. او یا په بل عبارت دا د پګړیو او چپنو لاره بنده کړي په عوض

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د مکتب لاره پرانيزي. نو به هر چا خپل عبادت د خپل ځان لپاره کاوو، نه چه له مذهب نه د ټولنې د قضاوت تله جوړه شي.

ځکه نو که انګریزان د آمان الله خان په ضد وو، نو ممکن وو به، مګر انګریزان دومره بې علمه او مرتجع نه وو چه د آمان الله خان د علم پرستي د پلان په ضد قيام وکړي او د علم په ضد پلان جوړ کړي. ولې چه افغانستان استقلال ګټلی وو، نور انګریزانو ته يو داسې افغانستان د راتلونکو اړيکو په خاطر له هغه افغانستان نه د علم او عصر په حکم بهتره وو کوم چه د افغانستان په هيواد کې د جهالت د تعصب او د تيارو ځای د علم وړنګو نيولی وي. ځکه چه انګریزانو که د افغانستان له استقلال نه مخکې په داسې وسايلو لاس ايښی وو چه په خپله ګټه د مذهبي تعصب وسله د افغانستان د ملي پاڅون په ضد استعمال کړي، مګر انګریز د علم په ضد نه وو. حتی چه په هند کې هغو کسانو چه د استقلال طلبي او آزادي په لاره کې ئې د انګریز په ضد بيرغونه په لمړي سر کې او په لمړيو ليکو کې پورته کړل، کوم چه اکثره هغو نامدارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



رهبرانو خپل تحصیل په انګلستان کې کړی وو. او بل دا چه افغانستان خپل استقلال ګټلی وو، نو انګریزانو هم په افغانستان کې یو بل پړاو لید.

نو چه پدې پرله پسې او یو په بل پسې علتونو د ارتباط په سلسله کې چه نه د سقاو له زوی نه کوم تحریري مانیفست یا خطابه او پلان او بیان پاته شو او نه د هغه وخت لیکوالانو کوم اثر پریښود، نو طبعاً چه بیا هم هغه څه چه آینده ته پاته شول د خلکو حافظه ده او د ورځې خبرې دي کوم چه د حبیب الله له خولې څخه وتلي دي. چه یو څو ئې تر موږه رارسیدلي هم دي چه کیدلای شي د حبیب الله کلکاني د ذاتي کرکتر مخې ته آینه شي او څه نا څه د هغه په دننه ژوند رڼا واچوي. یوه خبره ئې دا ده:

١. یوه ورځ ئې خپل ورور ته چه د دربار وزیر هم وو داسې ویلي وو چه "برو بچیم تیر از تخت. این تخت برایم شوم معلوم میشه. برو که کوهدامن بریم. آه کوهدامن یک برگ تاکت صد تخت و صد پاچاهیست ...".

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا دا چه وائي چه کله د سقاو زوی ارګ ونيوو نو ئې هلته راغونډ شوو خلکو ته وويل چه :
۲. "برين بيغم زندګی کنين وخت تانرا خوش تير کنين، مرغ بازي کنين، ساعت تيری کنين، پاچايتان مه استم".
د سقاو زوی مخې ته زيات جنګونه پراته وو. چه زيات ولايتونه لا د سقاو د زوی واکداري منلې نه وه. کرار کرار دې حقيقت ته رسيده چه پاچاهي کول يواځې د کابل د ارګ نيول نه وو. او پدې هم پوهيدلی وو چه يواځې په ساعت تيري کولو او خلک په خپل سر پاته کيدلو او خلک پداسې يو هوس خوشاله کولو لاره د پاچاهي لاره نده. وار په وار د وطن پيچلي مسايل د سقاو د زوی مخې ته وتل او وار په وار ئې مخې ته يوه لويه ساحه او د وطن لويه لاره راتله. چه څومره هيواد پراخه کيده او لويده هومره هم د سقاو د زوی محلي ذهن او محدوده واړه حدودونه له فشار لاندې راتلل، نو دې اعتراف ته رسيدلی وو چه:
۳. "مه و پاچاهي از هم دور هستيم".
يوه ورځ چه د سقاو زوی د ارګ آشپزخانې ته داخل شو، وائي چه له آشپزانو نه ئې پوښتنه وکړه چه دا دومره زيات

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیګونه د چا لپاره دي؟ آشپزانو ورته ویلی وو چه صاحب ستا لپاره. پدې خبره حبیب الله کلکاني سخت خپه شوی وو، نو ئې آشپزانو ته داسې ویلي وو چه:
۴. "میدانم میدانم که پادشاهان افغانستان چرا پاچاهي را دوست داشتند. ګپ سر آشپز خانه است".
او په آشپزانو ئې دا غږ کړی وو چه "تعداد دیګها را کم کنین، که مملکت را غرق کردین. ای مُلک یک مُلک بیچاره است مصرفه کم کنین".
آشپزانو ورته ویلي وو چه صاحب ته یو پاچا ئې، د پاچایانو ډوډۍ خو زیاته وي، نو مصرف ئې هم زیات وي. مګر د سقاو زوی په ډیر دردناک افسوس ځواب ورکړی وو چه:
"حالې میفهمم که ای ملک چرا خاک به سر شده. خوب ګوش کنین بعد از اي یک شوروای تلخ برایم کافیست. پاچاهیکه غلام شکمش باشه ملکه ویران میسازه. او یک غلام است پاچا نیست که دلش به نان خشک مردم نسوزه ...".
لدې نه پوره معلومیزي چه د سقاو د زوی په سینه کې د وطن او د خلکو په مقابل کې خیانت پروت نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکه برعکس سخت دلسوزه وو. نو پداسې انسان د یو عادی غله قضاوت کول به ناقص قضاوت وي. ځکه چه د سقاو زوی له ارګ څخه هیڅ شی ونه ښورول او نه ئې غلا کړل. که نه خو د خپل وخت د بیت المال ټوله سرمایه، پیسې او ثروت ئې له لاس او واک لاندې وو. او چه کله پدې هم چه بیا وروسته پوه شوی وو چه له شکست سره مخامخ شوی دی، په ډیره آسانې ئې کولای شواې چه د یوه عادي غله په صفت له ځان سره هر څه ویسي، مخه ئې هیڅ چا نشواې نیولی. او هم حبیب الله کلکاني په ارګ کې دننه پاته د محمدزیانو زنانه، اطفال او د ډیرو فامیلو وګړو ته ئې یو بیل ځای په ارګ کې ورکړی وو او خپل خاص یاران ئې د هغوی د حفاظت په احترام درولي وو چه هیڅ چا ته دا اجازه نه وه چه په هغه لوري لاره واوړي او یا هغه ځای ته په کږو سترګو وګوري. ویل به ئې چه "ناموس افغان یکیست". ګرچه ځینې منابع وایي چه دده د انډیوالانو له خوا په ارګ کې پر ځینو ښځو تجاوز شوی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د داسې یو انسان په سینه کې ساده خبرې او دافغانیت لوړ روح پروت وو. د ځینو کسانو له خوا حبیب الله کلکاني ته دا ویل شوي وو چه روسان غواړي چه افغانستان اشغال کړي. کلکاني پوښتلي وو چه دا خبره ممکن دروغ وي، خو بیا هم متوجه اووسئ او که دا شک زیات شو نو به زه هم خپله وظیفه اجرا کړم. چه بیا په ورستیو ورځو کې دا آوازې او شکونه پدې دلیل زیات شول چه ګویا افغانستان په هرج مرج کې متفرقه شوی دی او یو مضبوط مرکزي حکومت وجود نلري او سیاسي استقرار به تر زیات وخت پورې په داخلي جنجالو کې په همدغه علت مُیسر شي. نو د سقاو زوی خپل د دربار وزیر ته وویل چه ټول سفیران چه په کابل کې پاته دي راوغواړه، بالخاصه د انګریز او د روس سفیران به خامخا دربار ته حاضریږي. او همداسې هم وشول. نو د سقاو زوی د انتظار هغې خونې ته کوم چه سفیران پکې وو توره تر ملا ننوت او سفیرانو ته ئې په لاس اشاره وکړه چه کشینئ. بیا ئې دروس د سفیر پوښتنه وکړه چه کوم یو دی. مخ ئې ورواړوو او پدې خبرې ئې مخاطب کړ چه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"برایم خبر رسیده که شما سفیر روس در زیر لب کدام گپ دارید. آواز او گپ به گوشم رسیده. ولې باید بداني که ما مردم افغانستان ای شمشیره از نیاکان خود گرفتیم و هر دشمنه از ای خاک دواندیم. اگر دیروز انگریزه فهماندیم که ما کیستیم امروز به شما سفیر روس میگم که اگر خیال گرفتن افغانستان را داشته باشین و گمان کرده باشین که آمان الله خان از ای ملک رفت و ای خاک و ای ملک یک بوجي کاه است که اورا به آساني به ماسکو ببري؟ ... و یا اگر خیال کرده باشي که مه تخته از آمان الله خان گرفتم بخاطر ای گرفتم که او را به شما بفروشم؟ ای ملک بازار خاک فروشي نیست. در این وطن خاک و خون افغان یکیست، فهمیدی روس! اگر آمدي مثل انگلیس پیشمان میشي روس! اگر مرد استی بیا و ببین! چایتان را بخورین و برین...".

یوه ورځ یو چا د سقاو له زوی څخه د ملایانو په هکله پوښتنه وکړه چه دربار ته ئې راوغواړي او همیشه ورسره وي. نو د سقاو زوی خندلي وو او ویلي وو چه "ای مردم شکم هستند. با آمان الله دشمني کردند. قول و وفای

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکمه کسې ندیده ... یکروز اګر دوست معلوم میشه، معلوم میشه که سیر استند و اګر ګشنه ماندند با تو دشمن میشه ...".

او خپل ورور د دربار وزیر ته به ئې دا ویلې چه ګیره وخریه بد مې ترې راځـي خو زه به ئې لز پریږدم. دا یاد لره چه درئ شیه پدې خاوره کې سره یو ځـای شوي دي ملا، ګیره او منافقت.

دا سړی چه کله پاچا شو نو ئې دا لقب په ځان کیښود، "حبیب الله خادم دین رسول الله". او پوره یو کال ئې پاچاهـي ونکړه. او دا هم معلومه نده، چه دا لقب خلکو پرې کیښود که پخپله ئې انتخاب کړ. مګر نه چا د لمانځه په سر ولید او نه ئې د دین تظاهر په ځان ومانه. او لا تر ننه هم پاته یوه مرموزه څهره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## - ۶ -

# اعلیحضرت غازي آمان الله خان

امان اله خان د امیر حبیب الله خان زوی وو او د امیر عبدالرحمن خان لمسی وو. د دې شاه نوم د افغانستان په تاریخ کې د افغانستان د استقلال په نوم احترام پیدا کړی دی. کله چه د افغانستان د استقلال نوم یادیږي، نو د افغانستان د خلکو په حافظو کې د آمان الله خان میړانه تازه کیږي. دافغانستان استقلال په کال ۱۹۱۹م د همدې شاه په تصمیم له انګریزانو څخه تر لاسه شو.

دوهم قدر چه امان الله خان د افغانستان په تاریخ کې د یو ابدي یادګار په توګه ګڼلی دی هغه د معارف پروري او د علم دوستي عشق وو چه دې شاه په همدې لاره کې خپل تخت او تاج له لاسه ورکړ او د ارتجاع هدف وګرزید.

دریم د یو نیک احساس خاطره ئې چه د افغانانو په سینو او حافظو کې پریښودله هغه د آمان الله خان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان دوستی هغه فرمان وو چه د هغه فرمان په وسیله ټول هغه افغاني کورنۍ چه د شاه نیکه "امیر عبدالرحمن" خان برطانوي هند ته د خپل ۲۲ کلو د پاچاهي په موده کې له افغانستان څخه قهراً تبعید کړې وې او ډیر زیات شمیر ته رسیدلې، هغه کورنۍ ئې بیرته افغانستان ته په ډیر قدر راوغوښتلې او د ښښې یو مهم فرمان ئې پدې خصوص کې صادر کړ چه عملي شو.

آمان الله خان پدې راضي نه وو چه خپل هیواد بیسواده، جاهل او فقیر ووینې او هیڅکله دې ته حاضر نه وو چه د جهان د نورو مترقي هیوادو په منځ کې افغانستان محتاج پاته وي. د فقر او د احتیاج یواځنی علت ئې په جهالت کې لیدلی وو. ویل به ئې چه تر هغو د مریضي علت له منځه تللی نه وي مریض ښه کیدلی نشي.

لا په هغه وخت کې چه یو ځوان شهزاده وو د بل لاس له سیاسي تسلط لاندې ئې خپل هیواد پدې شرم کې پروت لیدلی نشوای. حتی له خپل پلار څخه تیر وو، مګر د خپل هیواد له استقلال څخه تیریدلی نشو او د اسارت ننګ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرم ئېی منلی نشو. لکه څرنګه چه له ډیره پخوا څخه ئېی د خپل پلار منافقت ته پام شوی وو، چه کله به د افغانستان له مختلفو ولایتونو د قامونو مشران او د خلکو نمایندګان امیر حبیب الله خان ته راتلل او له امیر څخه به ئېی د استقلال خواهـي په هکله مطالبې او غوښتنې درلودلې، نو امیر به په خوله د هغوی مطالبې منلې. چه څومره به ئېی هغوی همدې ملي مطلب ته هڅول هومره به ئېی د خلکو په غیاب کې انګریزانو ته لیکل چه: "تاسې زما په ژبه باور ملرئ چه زه د خپل وطن خلکو ته د استقلال د حصول په هکله خپله ملاتړي بیانووم. ځکه چه زه چاره نلرم غیر لدې چه په ژبه هو ورسره وکړم. مګر تاسو ته ډاډ درکووم چه ما خپل تعهد هیر کړی ندی، کوم چه د تاسو د دوستـي او زما د وفاداري په هکله دی...".

او کله چه امیر حبیب الله خان د ۱۹۱۹م کال د دوهمې میاشتې په ۱۹سمه د ژمي په شپه د لغمان د ولایت په "کله ګوش" نومي ښکار ځای کې د شپې له مخې په خپله خیمه کې په تپانچه وویشتل شو، دا د آمان الله خان د خپل وطن او د خپل پلار تر منځه د پریکړې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



فیصلې ترجیح وو. چه یوې خوا ته د وطن د استقلال او آزادۍ او د حریت ملي مینه وه او په مقابل کې د دې ملي مسئولیت او ملي آرمان په لاره پروت خنډ. نو آیا له وطن او د هغه له عزت څخه به تیریده او که نه د وطن د عزت او پت په وړاندې پروت خنډ او ممانعت او منافقت به ئې لیرې کاوو؟ دادی د امان الله خان د پیژندنې لنډ سجل او د امان الله خان د افغانیت د احساس لوړ داستان.

د امیر حبیب الله خان وژنه تش یوه بې پلانه بې سنجشه د قتل حادثه نه وه، بلکه امان الله خان د وطن د پلان لنډ او اوږده مقصدونه پوره پوره په نظر کې له پخوا څخه نیولي وو. خبر وو چه په هند کې د انګریزانو په ضد د قیام اوج انګلستان مشغول کړی وو. خبر وو چه د لمړي جهاني جنګ جګړې څخه اوس اوس خلاص شوی پوځ ستومانه دی. او د هند د پنجاب په ولایت کې زیات هرج مرج جاري دی او هلته یو عام قتل پیښ شوی دی. او ورسره د انګریزانو لاس لاندې د پوځیانو د اکثریت برخه مخ په ترخیص کیدو دي. او دننه په افغانستان کې د سرحد پښتانه د افغانستان د استقلال ګټلو لپاره په دوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښو ناست دي. او حتی په پيښور کې موظف د افغان د ارتباطاتو مامور آمان الله خان سره پدې خبره ټينګ وو چه د هند اکثره هندو اولس د آمان الله خان قيام ته سترګې په لاره دي، پدې هيله چه ئې په هند کې د انګريزانو په ضد هرکلی کړي او ملا ورسره په هند کې هم وتړي. چه په هند کې زيات هندي عسکرو هم همدا آرزو ښکاره کړې وه، چه به دوی د انګريزانو له قوماندې څخه اووځي او د آمان الله له ملي او پوځي قواوو سره به يو ځای کيږي. ځکه چه نور په اردو کې مادتاً او معناً په تنګ شوي وو سترګې يې افغانستان ته نيول شوې وې.

که څه هم آکا ئې نصرالله خان د خپل ورور له وژلو وروسته ځان په جلال آباد کې شاه اعلان کړی وو، مګر اصلی قوت په کابل کې وو چيرې چه آمان الله خان وو. او هغه قوت ټول د آمان الله خان په طرفداري ودريدل. دا ځکه چه د استقلال غوښتنې غږ له آمان الله خان سره وو نه له نصرالله خان سره، چه يو سست عنصره انسان وو. ځکه نو خلکو د خپل آرمان غږ د آمان الله خان له ژبې آوريده او پرې راټول شول. آمان الله خان خپل آکا کابل ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوغوښت او په ارګ کې ئې په یوه اطاق کې ځای ورکړ او له نظارت لاندې ئې ونیوو. او بیا ئې د هیواد د قامونو مشران یو لوی مجلس ته راوغوښتل او د استقلال بیانیه ئې خلکو ته پدې دو مهمو اصولو واوروله:

١. افغانستان لکه د نورو مستقلو هیوادو په شان د داخلي او خارجي حاکمیت او بین الملل حقوقو په رڼا کې د خپل آزادي او سرنوشت د ټاکلو حق لري.

٢. او خپل وطن به لکه د نورو مترقي هیوادو په څیر د معاصر مدني علومو او تمدن په لاره خپل مقصد ته رسوي. چه څومره استقلال بې له علمي پوهې په ملي باور پایدلی نشي هومره هم د علمي آرمانو د پیشرفت غوټې بې له استقلال نه په یو هیواد کې غوړیدلی نشي.

چه په نتیجه کې د انګریزانو سره په دریو جبهو کې لنډ نظامي برخورد وشو.

انګریزانو ډیر ژر د افغان د خلکو عزم او د حریت غږ واورید او د افغانستان استقلال ئې ومانه.

نو د امان الله خان یو آرمان تر سره شوی وو. اوس نو نوبت پوهې، دانش، معارف او د وطن پیشرفت او ترقي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسیدلی وو. آمان الله خان له وطن نه بهر د دوو هیوادو په دوستي ایمان درلود چه، یو د ترک هیواد وو او دوهم د جرمن هیواد وو. او وروسته له هغه نور هیوادونه هم په دوستانه کومکو کښې راتلل، لکه فرانسه، ایطالیا او نور...
امان الله خان کدر ته احتیاج درلود، یو هغه کدر چه لمړي ګامونه به ئې اخستل او د یو ژور او هر اړخیزه پلان لمړنی بار به ئې پورته کاوو. او دوهم کدر به د راتلونکو هدفونو بار منزل ته رساوو. نو ئې زیات شمیر افغانان په مختلفو مسلکو کښې خارج ته، بالخاصه ترکیې او جرمني ته واستول چه ښځینه او نارینه محصلان دواړه پکښې وو.
تر دې ځایه د افغانستان د تاریخ د همدې مرحلې مشخصتوب چه د یو پراخه علمي پاڅون او د یو ژور ملي قیام له خوځیدلي آرمان سره یو ځای په افغانستان کښې ښکاره شو، بې له شک څخه د آمان الله خان نوم پاس پرې ولیکل شو. کوم چه د افغانستان په تاریخ کښې دا د افتخار مرحله به تل د علمي حرکت په ورنګو کښې مطالعه کیږي. او دا وړنګې به بیا هم سر له نوي څخه د دې هیواد په خاوره کښې د علم دوستو افغانانوپه لاسو یو ځل

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د خپل عصر او زمان له شمعې څخه لګیږي. چه هیڅکله به دا شمعه مړه نشي، ځکه د افغانانو په منځ کې د ویښو او وړنګینو زړونو خاوندان زښت زیات دي. چه لکه پتنګ د خپل هیواد د ملي پت او پیشرفت د آرمانو په شمعو راتاو تاویږي. او د همداسې یو عشق او د یو همداسې یو ملي مسئولیت په احساس ژوندي دي او د تلاش ساه لري.

مګر کله چه د امان الله خان د دورې د علمي نهضت تله د قضاوت میدان ته په وروسته وروسته کلونو کې وویستل شوله، نو د قضاوت کونکو تیزه هغه تیږه نه وه چه د قضاوت د تلې لیاقت او علمیت ولري. چه هغه هم په منځ کې د افغانستان د هیواد تاریخ د قضاوت په وړاندې عنوان وګرزید. نو اشتباوې پداسې یو انحراف رامنځ ته شولې چه پخپله د قضاوت ژبه ګمراه او د تلې تیزه کچه او کږه وه. چه لا تر ننه په هماغه کچه تیږه له پورته شوې تلې څخه راتلونکو نسلونو ته د تحریف او انحراف اذهان پاته شول او په کږې لارې په کاږه قضاوت رهي شول، او د حقیقت مطلبونه پټ پاته شول. نو چه څومره ضرر

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقيقت او قضاوت او عدالت ته رسيد هومره هم د افغانستان تاريخ له کږو سترګو مطالعه کيده. نو ټوله ګناه په شخص وتپل شوله، چه ګويا آمان الله خان د خپل هيواد ارتجاع په نظر کښې نيولې نه وه. او دوهم دا چه آمان الله خان بايد د ضرورت له مخې په يوه قوي اردو تکيه کړې واى چه تر هغو د خپل پلان تطبيق تر سره کړى شي.
دا په ظاهره د حقيقت يوه برخه ده، مګر ټول حقيقت ئې نشو افاده کولاى.
پداسې قضاوت او انتقاد کښې د يو ګلدان د ګلانو پاڼې ليدل شوې دي چه غواړي ګل ته له پاڼو اوبه ورکړي چه ژيړې او وچې نشي. ندا چه د ګل د پاڼو تازه توب د هغه ګل د ريښو په اوبو کيدو تازه کيږي. د ګل د ښه ژوند، د ښو ريښو خبره ده، له ريښو څخه اوبه آخلي نه له پاڼو څخه. کله به چه د افغانستان د شاهانو په تاج پوشي کښې لومړى د عربي ژبې آواز پورته کيده، نه د آزادئ آواز د افغان په ژبه. کله چه د عربي ذهن مذهب د يو ملت لا آغاز او پيل په واک کښې نيولى وي، چه هم د شاه او هم د ګدا ژوند د عرب په ذهن تړل شوى وي. او د شاه تخت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عربو د قاتلانو د قبرونو د سړو تیزو په وړاندې په دعا تړل شوی وي چه د شاه له لاسه ونه اووځی. او حتی د شاه لقب د عربي ذهنیت مذهب ته پناه وړي وي. نو بیا همدا ریښې چه نه یواځې په افغانستان کې وچې نشوې بلکه برعکس د افغانستان د ملت لمړی نماینده چه په امیر او شاه به یادیده او د یو ملت د ارادې په نمایندګي به په تخت کشیناسته، مګر په لمړی سرکې به دې نماینده د غلامي مراسم اجرا کول او د عرب د ذهن غلامان به ئې غلامي ته تشویقول. او هومره به له ملي خودي او ملي شخصیت څخه بیزاره پاته کیدل. نو بیا چه کله بې د همدې تریخ حقیقت، د ماضي له مطالعې پرته او بې د همدې غلامي د یو نیم زر کلن تاریخ پرته، بیا هم څوک چه خپله ملي تاریخ ته له پردیو خاورې او له پردیو ریښو څخه د خپل ملي آرمان غوټۍ وغواړي نو به له حقیقت څخه وتل وي. ځکه چه حقیقت په زور نه حقیقت کیږي، حقیقت چه څومره په دروغو نه جوړیږي، هومره هم د حقیقت ماڼۍ هیڅکله په دروغو نه ړنګیږي. د همدې واقعیت د اخلاقي درک له مخې دی چه کله د افغانستان د تاریخ نوم منځ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځي بیا دا نده چه کوم شخص په زوره ښه مقام ته وخیژول شي. او یا برعکس ښه انسان څرنګه باید بد نام شي او دې ته تاریخ وویل شي. بلکه تاریخ د یو ملت په ژوند تکیه لري، د هغه ملت د ژوند حقیقت بیا د څیړلو مقصد ګرزي او چه بیا همدا مقصد یوه داسې مجموعه جوړوي چه د یو ملت د آرمان د ماڼۍ په جوړولو کې د هغه ملت روحي روزنه او تربیه مطالعه کوي. او همدا مطلب د تاریخ د قضاوت موضوع ګرزي. ځکه نو د یو ملت د روح یوې برخې ته تاریخ ویل کیږي چه له ماضي څخه د مستقبل په لور د یو ابدي تګلارې ګامونه دي. د حقیقت د سمندر څپې څپې موجونه دي.

آمان الله خان یا د دې خاورې یو بل اوسیدونکی افغان که شاه وي او که ګدا، چه کله ئې په علم لاس اینبی وي او چه کله وغواړي چه د علم او پوهې څراغ ته پلتې جوړیکړي، په مقابل کې ئې په دښمني افغانیت ندی دریدلی، بلکه عربیت دریدلی. چه کله د غلامي نوم آخلو نو موږ به د عربیت نوم آخستی وي. او کله چه د عربیت نوم یادوو خبره د عرب د ذهن ده. او کله چه غلامي د مطالعې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضوع ګرزي هغه وخت د عربي ذهن د مذهب مطلب ته رسيږو. چه کله د امان الله خان د علمي نهضت په مقابل کې دارتجاع تيارې تګاو، پکتيا او يا په لمړی ځل د شينوارو په منطقه کې پورته شولې، مانا ئې دا نده چه د شينوارو غيور او باتور قام د آزادۍ په ضد قيام وکړ. بلکه اصلاً د عربي ذهن غلامي لمړی په شينوارو کې وښوريدله چه پيروانو ئې د شينوارو د قام افغانيت نه تمثيلاوو، بلکه په منځ کې د عربيت ريښې وې. ځکه چه د افغانستان په ملي قيام او د ملي نهضت د تحريک په محرکه قوت کې د شينوارو قام لکه د افغانستان د نورو قامونو په شان د استقلال ګټلو په عزم ملاوې وتړلې. او د افغان په ټول تاريخ کې افغان د آزادۍ په ضد دريدلی ندی. د يو داسې ملت د تاريخ ملي مفهوم دادی چه افغان هيڅکله د خپل افغانيت په ضد وتلی ندی. او چه کله خبره د افغان د ملت د روحي روزنې د تاريخ په جهت دريږي نو بيې له کوم اندک ترين شک څخه دا حقيقت څرګنديږي چه هيڅ يو افغان د علم په دښمني د علم د څراغ وړنګو ته د وژلو په مقصد پوه کړي ندي. او هيڅکله ئې تيارې خوښې شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ندي. چه د افغانیت اصیل ترین روح د دې خاورې د اوسیدونکو په سینو کې د تاریخ افتخار لویه ماضي لري. چه کله په افغانستان کې تاریخ ته په کږو سترګو وکتل شول او کله چه د قضاوت په تله کې کږه تیږه کیښودل شوله نو افغانیت له تهمت سره مخامخ شو. چه داسې یو غلط او ګمراه کونکی ذهن میدان ته اووت چه ګویا افغانان د علم او پوهې په ضد دي. ګمراه نتیجه دا شوه چه په افغانیت کې ګډ شوی د عربیت پردی پیوند او پردی سپیرونی د ټولو افغانانو د ژوند او د تاریخ منعکسه کونکی ژبه وګرزیدله. دا هغه علت وو چه له یاده اووت چه دا عربیت وو چه په افغانستان کې د مذهب په لباس د افغانانو د علمي آرزوګانو مخې ته په خپل ارتجاعي خصلت اووت، مګر تهمت په افغانیت وتپل شو. او د هر اسلامي هیواد په دننه کې د عربیت د مذهب همدا خصلت وانه ووښت تل په خپل علت د علمي نهضتونو په دښمني لاس په کار ښکاره شوی دی. لکه په مصر کې، لکه په الجزایر، تونس او ترکیه، ایران ، پاکستان او په سوریه کې. او د افغانستان په هر کلي او کلا کې چه چیرې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عربي ذهن او عربيت پیوند د هر افغان د افغانيت روح په خپل خصلت آړولی وي د هغه افغان په دننه کې ژبه هم او سترګې هم د پردي پیوند د خصلت تمایل پیدا کړی دی. چه هیڅ کله افغانیت او په هغه تړلی د افغان د تاریخ روح نشي تمثیلولی. لکه څرنګه چه په اکثره عربي هیوادو کې هم لا د عرب د مذهب ذهن یوه پردۍ پدیده ده، ځکه چه د ټول بشریت د بشری مقام په ضد لا له ابتدا څخه د جنایت په نظر او په عمل میدان ته د دین په عنوان اووت. او چه کله په افغانستان کې په سطحي ناقص نظر د افغانستان د تاریخ له عنوان لاندې د تاریخ تحلیل شروع شو، دا انحراف پکې وو چه آمان الله خان باید لیرې شي. او دا خبره پټه پاته شوه چه عربیت له آمان الله خان سره کوم کار ندرلود، بلکه خبره دا وه چه د علم څراغ باید لیرې شي. که دا څراغ د امان الله خان په لاس رڼا شوی وو او یا که په بل یو لاس رڼا شي، شخص مهم ندی او نه وو. او نه به وي چه تر هغو د افغان په خاوره کې د عربیت ریښې او تیارې پاته وي، تل به د علم او پوهې شمعې ته د وژلو په مقصد پوه کیږي. رڼا د حقیقت لیدل او پیژندل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي او د عربي ذهن مرګ او د عربي مذهب پای دی. چه بیا د غلامي ځای په افغان کې د هغه خپل ملي شخصیت او ملي خودي نیسي چه د ځان پیژندنې لمړی درس په همداسې رڼا سره ممکن دی او له همداسې امکان څخه بیا د خدای د لارې د عبادت پیژندنې ته رسیدل ممکن دي.

ځکه نو ارتجاع په افغانیت کې نده، او ارتجاع د افغانستان د فرهنګ بوټی ندی. اشتباه همدا وه چه نوم د افغان او د افغان د فرهنګ او تهذیب بد شو. ناخبره لدې چه هغه افغانان چه پدې لاره کاږه شول بیا هم هماغو افغانانو د ارتجاع مرض له عربیت څخه اخستی وو نه له افغانیت څخه. البته چه افغانان وو او افغانان دي، د همدې خاورې دي چه که په اخوانیزم یاد شول او یا که په بل یو ارتجاعي نوم، نو خبره د ارتجاع ده نه د افغان. او د اصلی مطلب په څیړنه کې مهم مقصد علت دی نه معلول. او علت هماغه د عرب ذهن او مذهب دی چه د خپل خصلت له مخې همیشه د علم په ضد ئې چه څومره ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښودلی دی هومره ئې هم په همدغه تلاش ځان ته په هغې ټولنې کې ځای موندلی دی.
ځکه نو له همدې علت سره د قیام او مبارزې او د تاریخ اصلي مطلب پاته شو، په ځای ئې په افغانستان کې د ارتجاع د غندلو او د انتقاد کولو ګیلې رامنځ ته شولې. اخلاقي ترین مطلب او د افغانیت د موضوع اصیل ترین قیام او مبارزه د عربي ذهن د مذهب د ریښو مطالعه وه. او مطالعه ده چه د هر رنګه تعصب او د هر رنګه انحراف مخه په علمي مطالعه نیول کیږي. او مطالعه د افکارو د آزادي شرطونه شرط ګڼي چه هغه علمي او تعلیمي نهضت دی، نه چه د ارتجاع مخې ته توره په لاس قیام وشي او د مرتجعینو په نوم بیرته خپله افغانان په خپل کور او هیواد کې ووژل شي مګر علت بیا هم پاته شي. او بیا بیا بدې نتیجې، بد معلولونه سر ووهي او بیا بیا سرونه پرې شي او وینې وبهیږي او د نفاق او نفرت تر منځه د افغان اولس په دائمي دښمنۍ یو له بل څخه په نفاق بیل پاته شي او علمي اتفاق ته ونه رسیږي. چه بد عاقبت ئې ننی ملي نفاق دی کوم چه تر ننه پورې دردونه د یونیم زر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلو په موده کې زموږ په برخه شول. له "پرون" څخه "نن" ته راورسیدل او که چیرې "سبا" ته هم پاته شول، نو بیا به غلط قضاوت بیا هم موږ په غلطه لاره بیائي.

او افغان به بیا له یاده باسي چه افغان ته د خشم، تجاوز او تشدد مذهب چا راووړ؟ له یاده به باسي چه د افغان په خپل تهذیب او فرهنګ کې د مذهبي متجاوز ذهن وحشت هیڅکله موجود نه وو. د افغان د افغانیت په نوم چه کله زمونږ مخې ته زمونږ خپل فرهنګ د کتاب پاڼې خلاصې شي، نو هر افغان پکې د انسانیت دا لوړ اخلاقي لارښونې لوستلی شي چه په بخشش او عفوه، سخاوت، میړانه، میلمه پالنه، وفاداري، غیرت، له خدای او خاورې سره مینه، عزت او پت، کوم چه افغانیت په همدغو ریښو ولاړ دی او ترې زرغون شوی.

هر افغان له دریو شیو منعه شوی دی. بد ګوئي، بد آموزي, بد اندیشي. او درې خصلته ئې د اخلاقي ګمراهي علت ګڼلي. یو: دروغ، دوهم: برتري، دریم: تجاوز آمیزه باطل ذهن. او دلیل ئې تیارې ښودلې دي چه تیارې د عزت ریښې نلري. او دې نتیجې ته رسیږي چه له باطل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ځان ساتل په باطل غلبه ده. له باطل سره مبارزه له تيارو سره مبارزه ده. او پدې توګه زموږ د افغانانو د فرهنګ اصالت له باطل سره د مبارزې له لارې عبادت ته رسيږي.

ځکه نو پدې هيواد کې د خپل فرهنګ نوم چه کله د افغان د مطالعې موضوع ګرزي، مطلب ئې کوم دين او يا مذهب ندی چه يواځې دين او مذهب د عرب د دين او مذهب د انحصار له عنوان لاندې هر څه ختم شي. بلکه خبره د دوو مختلفو فرهنګونو ده. چه يو پردی فرهنګ دی چه د مذهب او دين په نوم زموږ خاورې ته راغی او يو زموږ خپل فرهنګ دی. کله چه له خپل فرهنګ څخه مدافعه کيږي دا کوم تش ملي تعصب ندی، بلکه موږ افغانان په خپل فرهنګ کې تجاوز نه وينو. او کله چه پردی فرهنګ ردوو په حقيقت کې تجاوز ردوو. که نوم ئې په عربي ژبه جهاد وي او يا ئې که پوښ د مذهب په رنګ همدا منافقت وي. او په همدغه دليل وو چه پدې هيواد کې د کفر نوم د ډار نوم وګرزيد، چه خپل ډير پيروان ئې د ذهني تعصب په تيارو کې وساتل. او چه کله تعصب او منافقت څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان ویستل غواړي نو ډاریږي چه کافر به شي. او دا خو په خوله لا نشي آخستلی چه "اسلام" د عرب د ذهني فرهنګ یوه برخه ده چه د ژبې او عمل هر راز منافقت پکې راغونډ شوی دی.

خبره د بدې تربئې مطلب ته رسیږي چه د عرب د ذهن ډېر انسانان له انسانیت څخه بیزاره او په دښمنۍ تربیه کړل. هغه بیګناه انسانان چه عربو ووژل او هغه وینې چه د جهاد په نفرت او توره توئې شولې او همدا تیارې ئې د خدائي فرض په نوم تیتې کړلې. پداسې تیارو کې سخاوت، عزت او مینه نشي کولای چه وده وکړي.

مګر په افغانستان کې ډېر داسې وطنپرسته کسان وو چه غوښتل ئې چه هم همدا تیارې وي چه نوم ئې اسلام دی او هم د په همدې تیارو کې صداقت، ورورولی، اتحاد او همدردي زړونو او سینو ته لاره پیدا کړي. چه دا لویه اشتباه وه او دا اشتباه یونیم زره کاله په افغانستان کې تکرار جاري پاته شوه.

او ځینې خو لا داسې هم پدې هیواد کې تیر شول چه خپل هر ښه په اسلام وتړي او هر بد په افغان او

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانیت وتپي. او دریمه ړنده لاره پدې ناقصه آرزو دا وه چه انسان ته سعادت او ترقي د اسلام له لارې په برخه کړي. او یا علم او د علم هره خوشبختی د اسلام په خذمت کې ورکړي او د علم رهبر هم همدا د عرب ذهن یانې اسلام وګڼي. او په ډیرو هیوادو کې د اسلام ډیرو پیروانو په ډیر ځله په پاک زړه او پوره خوشباوري او ایمان د همداسې بې اساسه آرمان او تلاش لارې ونیولې. مګر پداسې ړندو لارو کې ورک شول او ترې پاته کتابونه هغه شمعې نشول چه د تعصب د لارې تیارې رڼا کړی شي او د حقیقت منزل پیدا کړی شي. نتیجه دا شوه چه که دوی هر څومره د حقیقت، د فضیلت او د عدالت تږي وو، د معنویت او ترقي آرزومند وو او د انساني ژوند په طلب وو، مګر پدې لاره کې ئې ټول کتابونه، ټول پکرونه، تلاش او آرزوګانې سر ته ونه رسیدلې. ځکه چه دوی د عرب مذهب او عدالت ته په یو واحد نظر کتل. نو د دوی د حقیقت تعریف هم غلط وو او هم همدې غلط تعریف ته غلطې لارې ختلې وې. دوی لا له اول نه دا هیڅ نشوای منلی چه د عرب د ذهن لارې غلطې دي او کږې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه نو په افغانستان کې د افغانانو د انساني نجات لاره د دې انساني پکر او اخلاقي روزنې او د يو ملي تعليم په تلاش خپل مقصد ته رسيدلی شي، چه که غواړي چه په افغانستان کې منافقت نه وي نو بايد لمړی د منافقت لاره په خپل هيواد کې پرينږدي. که چيرې د عرب د منافقت لاره زموږ هيواد کې نه وای، ولې به افغانان په ارتجاعي لارې تلل؟ ولې به ئې له حقيقت نه داسې کرکه کوله؟ ولې به د علم په مقابل کې پداسې تور تعصب او دښمنۍ دريدل؟ ولې به نپوهيدل چه بې له علم نه په تور جهالت کې پاته کيدل؟ جهالت فقر دی، جهالت تياره ده، په جهالت کې پت نشته، په جهالت کې سخاوت نشته، په جهالت کې اخلاقي فضيلت نشته. په جهالت کې وفا او ميړانه له منځه ځي، عاقبت يې نفاق، نابودي او بدبختي ده.

او چه کله په افغانستان کې د افغانستان د تاريخ يوه مرحله له مطالعې لاندې نيول کيږي، هميشه به دا دوه لارې وي، چه د افغان د مطالعې دوه سترګې ګرزي چه يوه د عربيت لاره ده او بله لاره د افغانيت لاره ده، چه بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل تاریخي ژوند پس منظر منزل ولیدلی شي او پوه شي چه د افغان د علمي نهضتونو په مقابل کښې همیشه همدا پردی ذهن وو چه په دښمني دریدلی.

د یوې تاریخي مرحلې په توګه د آمان الله خان د اقتدار دوره په همدې حقیقت یوه شاهدي وائي، چه دا د علمي آرمان او تلاش مرحله تر خپلې ثمرې پاته نشوه. چه ګناه په موږ کښې د مذهب په نوم پاته پردی لاره ده، نه د امان الله خان ګناه. ځکه چه علم ته هیڅکله هیڅ افغان د خیانت او کفر په سترګه کتلي ندي او علمي پاڅون ئې د بې دیني په تور محکوم کړی ندی. او علم ته ئې ګناه ویلي ندي. د افغانستان د فرهنګ د تاریخ ژبه تل دا وه چه "علم که بې علمی“؟. مګر کله چه زمونږ هیواد ته پردی ذهن اسلام راغی نو خبره داسې واوښتله چه: ”دین که بې دیني؟ کفر که اسلام؟“.

علم په بې دیني کښې راغی او په کفر یاد شو. او جهالت ته بهترین دین وویل شو. او په ټول ژوند کښې په همدې حقیقت تر دا ننه چه اسلام راغلی زموږ ژوند شاهدی وائي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# - ۷ -

# امیر حبیب الله خان

را به شو د امیر حبیب الله خان چه په "امیر شهید" هم یاد شوی، لنډې معرفي ته:
دا سړی له آمو دریا ها خوا د منځنۍ آسیا په یو ښار کې هغه وخت زیږیدلی دی چه لا امیر عبدالرحمن خان پاچا شوی نه وو. او امیر یولس کاله په تبعید او په فرار کې وو. ځکه چه امیر عبدالرحمن خان له امیر شیر علي خان نه د غزني په سیمه کې شکست وخوړ، نو ئې لمړی ایران ته پناه ویوړه او بیا له هغه ځایه منځنۍ آسیا ته ولاړ چه په منځنۍ آسیا کې د روس د امپراطورۍ له قبضې لاندې زیات ترک نژاده او مسلمان هیوادونه راغلي وو. چه کله په منځنۍ آسیا کې وړې وړې پاچاهۍ، نفاق او ځان ځانۍ رایج شوې وې، نو د روس د پوځونو آفت پرې نازل شو او یو په بل پسې ئې دا امیران مات کړل او د هغوی هیوادونه ئې اشغال کړل. ځکه نو امیر عبدالرحمن خان چه کله به په بخارا کې وو او یا به چه کله په سمرقند یا تاشکند کې وو، پدې ټولو ځایو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



روس حاکمیت چلیده او په نتیجه کې امیر عبدالرحمن خان روسانو ته پناه وړې وه. ځکه چه امیر ته روسانو په کال کې ټاکلی یو کلنی معاش مقرر کړی وو.
امیر عبدالرحمن خان خپل یولس کاله په تبعید کې اکثراً په ښکار کولو تیر کړ او د بدخشان له غرنۍ سیمې څخه ئې د هغه ځای یوه ازبکه وکړه او له همدې ازبکې څخه امیر حبیب الله خان وزیږیده. بدخشان چه بیا وروسته په دو حصو تقسیم شو، یوه برخه ئې په افغانستان کې پاته شوه چه مرکز ئې فیض آباد دی او بله برخه ئې د ننني تاجکستان یو ولایت دی. د آمان اله خان مور چه د کندهار وه او امیر حبیبالله خان چه تر دیرشو پورې نورې ښځې هم د افغانستان له مختلفو سیمو او قامونو له هزاروو څخه نیولې بیا تر نورستانه پورې کړې وې، نو چه کله به د آمان الله خان مور خپل میړه ته په قار شوه، نو به ئې دا ورته په پیغور ویل چه "ځه ځغله د ازبکې زویه، چه ته هم پاچا سوی ئې!". که څه هم ونه او قد ئې له خپل پلار څخه اخیستی وو، مګر خوی ئې د خپل پلار په ضد وو. او د خپل پلار له قهارتوب څخه سخت نا آرامه وو، چه په سلهاوو زره افغانان ئې د خپلې پاچاهي په دوره کې په مختلفو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکنجو مرګ او نابودي ته وسپارل. او په لسهاوو زره ئې جبراً اکثراً هغه کسان برطانوي هند ته تبعید او فرار کړل کوم چه د هغو کورنیو مشران، قامي مشران وو او د انګریزانو په ضد په قامي قیام دریدلي وو.

د امیر حبیب الله خان صبر پداسې وخت کې ستوني ته رسیدلی وو چه پلار ئې مریض شو، مګر په میاشتو میاشتو له اجل سره لاس په ګریوان وو. چه بلاخره زوی ئې د دوا په ګیلاس کې زهر واچول او خپل پلار ئې اجل ته له پوښو څخه ونیوو. نو لدې لارې ئې چه څومره ځان راحت کړ هومره ئې د افغانستان خلک نور د وژلو او شکنجو او فرارولو له عذاب څخه وژغورل.

امیر حبیب الله خان له پاچاهي کولو له مقصد څخه پدې پوهیده چه یواځې راحت وي او بل هیڅ. چه کله به کومه ورځ د امیر دربار ته افغانستان له مختلفو قامونو څخه راغلو مشرانو له خبرو څخه په عذاب شو چه غوښتل به ئې چه امیر د انګریزانو په مقابل کې په مقابله پاڅوي، نو به د خپل فامیل له دننه څخه د ځینو شهزادګانو او خپلوانو له خوا هم کله کله په همدې خبرې مخاطب کیده. چه بیا ئې یوه ورځ خپل نژدې فامیلي کسان اوسني "چمن حضوري" ساحې ته بوتلل کوم چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه وخت کې هلته اوبه زیاتې وې او د ښکار لپاره له لرګیو وړې جوړې شوې کایکونه او خوا ته د مرنجان د غونډۍ بیخ کې د عسکرو خیمې ولاړې وې. هغو ته ئې ګوته وینوله وئې ویل چه "تاسې پدې وړو وړو د لرګیو په کشتیو غواړی چه د انګریز د امپراطورۍ د بحري جنګي کشتیو ته ماته ورکړئ؟ آیا پدغو خیرنو خیمو کې پراته د یو څو عسکرو په ګوډ ماتو توپکو غواړئ چه د یوې عظیمې امپراطورۍ د جنګ مضبوط ماشین مات کړئ؟ موږ تاسې له جنګ څخه څه غواړو؟ آیا په زوره غواړئ چه خپل راحت خرابه کړئ؟ تاسې ټول الحمدالله په راحت کې یاستی، نو لازمه نه ګڼم چه داخپل درته نصیب شوی راحت پریږدئ او د هغه په ځای د جنګ لاره ونیسئ. تاسې ته به هیڅ وخت له راحت او اطاعت څخه آزار ونه رسیږي، که څوک نه غواړي چه دا اوسنی خپل راحت خرابه کړي نو هیڅکله د جنګ کولو خیال په سر کې نه ساتي...".

امیر حبیب الله خان په پکر کې یوې خوا ته د استقلال جنګ وو، بلې خوا ته آرام ژوند. چه حتی بیا وروسته وروسته ډیر آرام نآرامه کړی وو، چه کله به ئې په ورځ کې له سهار نه تر غرمې پورې یو رنګ دریشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



آغوستله، بیا به له غرمېی نه تر مازدیګره پورې بل رنګ او د شپې له مخې یو بل رنګ. او پدې سینګار به ئې اکثره وخت تیراوو. او پلار ئې د افغانستان مهم قیام کونکي میړني کسان خاموشه کړي وو، داسې کسان نه وو پاته چه امیر ته د سر درد پیدا کړي. نو به ئې خپل وخت په نامعقولو او ناقصو ساعت تیریو تیراوو چه ځانته به ئې دا ساعت تیرۍ تصنعي ترتیبولې. خو بیا هم په یوه ناراضه حالت او رواني بحران کې پاته وو. دا ځکه چه حبیب الله خان د ژوند پدې راز پوه نشو چه د وطن د ترقي او آبادي په لار کې هر زحمت شاه او ګدا ته معنوي راحت دی. او دا مسئولیت دی چه هم شاه او هم ګدا د وطن، د ملت او د انسان په خذمت کې یو شان مساوي کوي. ځکه چه دا د وجدان غږ دی او بیا له هغه وروسته علمي صلاحیتونه د وطن په تعلیم او بقا کې ویشل کیږي. مګر امیر حبیب الله خان به په خپل مجلس کې له ملایانو سره د عربو د څلورو خلیفه ګانو له عدالت څخه خبرې کولې او دا به ئې ویل چه "د قیامت په ورځې چه کله خدای محاکمه شروع کړي، حضرت عثمان ته وائي چه ستا له سپینې مبارکې ګیرې څخه زه لا شرمیږم تا نشم محاکمه کولای، بې له محاکمې مخامخ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنت لاره نیسه چه هلته د جنت نعمتونه ستا په انتظار دي ... ". او بیا به ئې ملایانو ته تحفې ورکړې. او پدې کې ئې امیر توب او ژوند تیر شو. او چه بیا ووژل شو، مړ شو. او د شهید په نوم یاد شو.

د همدې امیر د پاچاهـي د عطولې مرحلې په دننه کې کال تر کال زیاتیدونکي افکار د یو نوي مترقي افغانستان د جوړیدو په آرمان زیږیدل او د همدغه آرمان په لور خوځیدل چه دا علمي جریان د عصر له تقاضاوو سره غبرګ د هند له دننه آزادی خواهانو سره هم فکري ارتباط نیولی وو. او پټ لوڅ پیدا شوي سیاسي انجمنونه ترې جوړ شول، پداسې وخت کې چه د انګریزانو او د روس د امپراطورۍ تر منځه د آسیا په سر رقابتونه پراته وو. او چه څومره افغانانو او د هند خلکو له انګریز څخه استقلال غوښت هومره هم روسانو ځان د آمو دریا غاړې ته رارسولی وو. که آسیا پداسې طوفاني څپو کې ځنګیدله، مګر پدې ځانګو کې د آزادي او قیام ویښ شوي سهارونه هم ځنګیدل او لوئیدل او خپل منزل ته به رسیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## – ۸ –

# امیر عبدالرحمن خان

امیر عبدالرحمن خان په (۲۲/ ۷/ ۱۸۸۰م) په تخت کیناست. یواځنی امیر چه په افغانستان کې ئې د قصي القلب لقب پریښود همدا امیر وو. او همدې امیر چه کله یې ځان په یو مرکزي قوت کې ولید، نو د خان خانیو او متفرقه قامي ځان ځانیو لاسونه ئې لنډ کړل. او ټول ئې په یو واحد مرکزي حکومت وتړل چه د هماغه وخت تقاضا د یو همداسې سیاسي قدرت ضرورت شرط ګاڼه. نو ئې یوه ورځ خپلو مشاورینو ته دا هم وویل چه "افغانستان یو خوار هیواد دی. دا هیواد تجارت ته احتیاج لري. د تجارت لارې ما په امن کې راوستلې او غله او غدۍ مې ورک کړل. اوس نو زه خپله د تجارت مرکز په خپل نوم په کابل کې جوړوم. دوهم دا چه د افغانستان انګور په دنیا کې جوړه نلري، نو په کار ده چه د شرابو فابریکه جوړه شي چه له فرنګیانو څخه خپل هیواد ته ګټې ترې واخلو ...". په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجلس کې یو چا ورته وویل چه "امیر صاحب که ستا حضور ته عرض وکړم چه ملایان به څه ووائي؟ ...".
امیر ځواب ورکړ چه "ملا ئې له شرابو سره څه؟ هغوی د نه څیکي". مګر مشاور ورته وویل چه "ملایان خو به ئې په خپله نه څیکي، خو په دین او شریعت ئې تړي، بیا د سر درد پیدا کوي". امیر ویلي وو چه "ولې پیغمبر خپله نه څیکل؟ کله چه پیغمبر شو نو ئې پریښودل. که ئې دا ویلي نه وای چه خدای وویل چه نور شراب حرام دي ښه به وو. نو به دا خبره د ده اجتماعي نصیحت ګڼل کیده. مګر کله ئې چه وویل چه خدای وویل چه وروسته لدې شراب حرام دي، آیا خدای خپله اشتباه بیانوله؟ چه تر یو وخته حرام نه وو، بلکه عیسی پیغمبر څیکل او په خپل لاس به ئې خپلو یارانو ته د شرابو پیالې ورکولې، حتی شراب مقدس ګڼل کیدل. نو بیا ئې ولې هغه ته هم نه ویل چه شراب حرام دي؟ که زمانه بدلیدله مګر خدای خو کامل دی د تکامل او د زمان تابع ندی ...".
او بیا ئې بیا خپله خبره تکرار کړې ده چه "تاسې دا کار وکړئ چه وطن ته یو څه خپله لاره جوړه کړو او په خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



همت ګټه تر لاسه کړو، نور تاسې ددې طفیلی طایفې په خبرو پسې مه ګرځئ. د وطن احتیاج ته پام کوئ، نه ددې طایفې خبرو ته. که مو دې طایفې ته په هر کار کې واک ورکړ بیا مو په اوګو درخیژي چه بیا ئې له اوګو څخه کوزول کوم آسانه کار ندی".

او امیر په کابل کې په خپل نوم یو سرای هم جوړ کړ چه تر ډیره وخته دا سرای د "عبدالرحمن خان په سرای" مشهور وو، او په کابل کې د تجاري راکړو ورکړو په مقصد پاته هم وو. او چه کله ئې خپله شخصي سرمایه په تجارت واچوله نو دا د امیر د سرای د افتتاح ورځ هم وه. چه ئې ویلي وو: "ما دا هیواد ډیر زیات ستومانه کړ او په هماغه اندازه ئې زه هم ستومانه کړم. مګر اوس به په اقتصاد او تجارت تکیه کوو ...". امیر عبدالرحمن خان کوم شراب خور شخص نه وو، بلکه له خپل ذهن څخه ئې هومره د خپل وخت په افغانستان سترګې لګیدلې چه لمړی باید د افغانستان حدودونه وټاکل شي او پوره تعین شي. چه کله کور بې وره او دروازې پاته وي د هغه کور امن نشي تر لاسه کیدلی. ځکه نو امیر دا کوشش وکړ چه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دو مهمو قوتونو "د انګریز امپراطورۍ او د روس امپراطورۍ" له نظامي تهدیدونو څخه د افغانستان ساتنه وکړي او دا ئې په حقیقت کې له هغو داخلي قوتونو سره د مقابلې په ضرورت هم تکیه ورکوله کوم چه په افغانستان کې یو اختناق، هرج مرج او یوه ملوک الطوایفي رایج وه. چه څومره مرکزي ټینګ سیاسي قدرت ته ضرورت وو، هومره یې هم یوه مرکزي نظامي دوامداره اردو شرط ګڼله. دا سې اردو چه تر هغه وخته د قامونو د مشرانو په ملي ملیشاوو تړل شوې وه. او تر هغه وخته به هر یاغي شهزاده په همدغو قواوو تکیه کوله، نو به د قوت خاوند شو او نتیجه به جنګونه وو. او لا بدتره دا چه په وطن کې دننه ځان ځانی، خون ریزۍ او ملوک الطوایفي وطن له تجارت، اقتصادي رشد او د لارو له امن څخه محروماوو. نو امیر چه څومره په خپل ذاتي خوی او خصلت لا له وړکتوب څخه د یو نارحمه، عصبي او قهار شهزاده په توګه تربیه آخیستې وه او چه څومره یې دا خوی بیا وروسته د افغانستان په سیاسي چارو کې د امیر د واکداري سره وتړل شو، نو زیاتې وینې توئې شولې. او یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې جاسوسي تشکيلات جوړ شو چه په افغانستان کې د هر کور غړي به لا په خپل کور کې هم د امير د جاسوسي د تشکيلات ډارونکې او ويرونکې سترګې او غوږونه ليدل. او همدا ډار ګوټ په ګوټ په ټول هيواد کې خپور شو، چه بيا لداسې ډار څخه ډيرو افغانانو په ډليزه توګه فرار وکړ او ليرې هيوادو ته وتښتيدل. چه حتى يو ليرې هيواد او لويې وچې ته هم ورسيدل چه هغه د استرليا لويه وچه وه.

افغانستان چه له يوې خوا د انګريزانو د سياسي کبرجنې امپراطورۍ له تسلط څخه آزار ليد، او هم په هغه وخت کې يوې پيړۍ ته نژدې داخلي جنګونه د سدوزيو او محمدزيو د کورنيو تر منځه او وروسته د محمدزي کورنى د شهزاده ګانو ترمنځه د تخت په سر په افغانستان کې يې د بربادۍ او نفاق اور بل ساتلى وو. او لداسې جهالت څخه البته چه علمي پيشرفت او تعليمي ترقي تصور کيدلى نشواى. کوم چه د هماغه وخت د شرطونو له سترګو څخه د امير عبدالرحمن خان سياسي غضب ناکه مشې او تګ لارې ته کتل پکار ده، نه چه د شلمې پيړۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ديموكراسي له آزادو مفكورو څخه چه قلم تائيدوى نه كوتک او شنه لښته، لکه چه امير عبدالرحمن خان ترې كار واخيست او همدې كوتک وكړاى شواى چه هم داخلي جنګونه پاى ته ورسوي او هم د همدې جهل په مقابل كې د جهل په وسايلو د افغانستان د ټوک ټوک كيدو مخ نيوى تر سره شو. او په خارجى سياست كې د افغانستان حدودونه وټاكل شول، او زور په ملي مقصد كې خپل مطلب تر لاسه كړ.

مګر د امير عبدالرحمن خان د واكداري په منلو كې د انګريزانو تائيد او له افغانستان څخه د خپلو پوځيانو د ويستلو په پريكړه كې د "ميوند جنګ" زيات رول لوبه ولى وو، چه كله د سردار محمد ايوب خان په مشرۍ قومي قواوې د انګريز له پوځ سره په ميوند كې مخامخې شولې د انګريزانو تلفات له حده زيات وو. او دا د يوې متكبرې امپراطورۍ د جنګ د ميدان شكست وو. او پدې وخت كې چه په انګلستان كې ليبرال حزب سياسي قدرت تر لاسه كړى وو، نو د ليبرال حكومت نه غوښتل چه نور د په افغانستان كې د انګليس مداخله دوام وومي. او دا دليل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې وړاندې کړ چه " افغانستان د انګريزانو لپاره هميشه قبر شوی دی، د افغانستان په خاوره کې پائيدل به تل زموږ په شکست او پيغور آوړي ". ځکه ئې هغه پوځ بيرته له افغانستان څخه په وتلو کړ کوم چه د امير شير علي خان د پاچاهي په ورستني کال کې افغانستان ته راواووښت او د افغان - انګليس د دوهمې جګړې علت وګرزيد.

امير عبدالرحمن خان چه د خپل د آکا زوی "سردار محمد ايوب خان" له مقابلې څخه عاجز وو، نو له انګريزانو سره د معاهدې له مخې پدې کار کې "جنرال رابرت" په مخکې شو او د سردار محمد ايوب خان مقابلې ته ورغی. او انګليس جنرال به چه کله دا کار کاوو او له ايوب خان سره يې جنګ په غاړه آخيست، مګر عبدالرحمن خان به هم د انګريز د هغو پوځيانو امنيت په غاړه آخيست کوم چه د جلال آباد له لارې څخه له افغانستان څخه وتل. نو د انګريز جنرال د امير د تخت لپاره خپل تعهد له ايوب خان سره په مقابله کې تر سره کړ او د سردار محمد ايوب خان قواوې د هرات په لور په شڼ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شولې. او امیر هم په خپل قول ودریده چه پدې توګه د انګریزانو پوځ هم د جلال آباد له لارې او هم د قندهار له لارې هند ته ستنې شولې. او هم د لیبرال حزب او حکومت سیاسي مطلب تر سره شو چه ئې غوښتي وو چه "د افغان خاوره ترک کړي او ځانونه له عام قتل څخه بچ کړي". لدې خبرې څخه مقصد اشاره د هغه شل زرو انګریزي پوځیانو نابودي ته وه کوم چه د "افغان - انګلیس" د لمړي جنګ په وخت کې یواځې یو پوځي ډاکتر "ډاکتر برایدن" ژوندی پاته شو او نور پوځ د "خورد کابل" له حدود څخه تر "تیزین" ځای پورې ژوندي ونه رسیدل. او د قامي ملي قوتونو له تورو څخه تیر شول. او د افغان په تاریخ کې د یوې ملي حماسې یادګار وګرځید، چه د افغانانو د ملي خودي ویاړلی باور ئې راتلونکو نسلونو ته په مطالعه کیښود، پدې هوشدار چه که چیرې افغانان لدې ملي شخصیت او افتخار څخه کومه ورځ ځانونه پردي کړي درد به ئې په نصیب شي. لکه څرنګه چه دا اوسنی ورځې د همداسې درد شاهدې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# - ۹ -

# امیر شیر علی خان

امیر شیر علی خان د امیر دوست محمد خان زوی دی، چه یو نیک بینه انسان وو او نیک خواه احساس ئې درلودل چه که وکړای شي خپل هیواد ته خدمت وکړي. مګر د خپلو دو وروڼو په شرارت واووښت چه یو ورور ئې افضل خان نومیده او د امیر عبدالرحمن خان پلار وو، بل ئې اعظم خان نومیده چه په افغانستان کې په لوچک او ظالم مشهور وو. وائي چه کله د زرمت سیمې ته چه په پکتیا کې ده ولاړ او د امیر شیر عل خان په ضد ئې خلک په ځان پسې کړل، نو هره ورځ به ئې دوه چرګان په جنګ آچول په یوه چرګ به ئې د ځان نوم کیښود او په بل باندې د امیر شیرعلی خان. او کله به چه د ده چرګ میدان ویووړ په هغه ورځ به ئې خلکو ته له خپل جیب نه پیسې ورکولې، ویل به ئې چه "زه د تاسو پاچا یم". او کله به ئې چه خپل چرګ جنګ بایلود نو به ئې کنځلې کولې او هغه چرګ به ئې وواژه او سپي ته به ئې واچاوو. دا سړی چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په "اعظمو" يې شهرت درلود څو مياشتې پاچا هم شو، چه بيا ئې بيا شکست وخوړ او ايران ته وتښتيده. او په لاره کې د معدې د مرض له فساده مړ شو او قبر ئې په ايران کې پاته شو. همداسې افضل خان ورور ئې هم تر يو کال او څو مياشتو د کابل تخت په ظلم وچلاوو او بيا په کابل کې مړ شو، چه په حقيقت کې زوی ئې امير عبدالرحمن خان د کابل تخت خپل پلار ته د غزني په جنګو کې ئې چه کله امير شير علي خان ته دوه ځلې شکست ورکړ ګټلی وو.

ځکه نو د امير شيرعلی خان پاچاهي د تخت په دوه ځلو ګټلو او د تخت په بايللو څرګنده شوه چه بيا تر لسو کلو ټينګه پاته شوه چه دا ئې دوهمه دوره وه. په لمړۍ دوره کې محمد افضل خان د افغانستان د شمالي ولايتونو چه په "افغاني ترکستان" ياديده والی وو. اعظم خان د کرمې والي وو او محمد شريف خان د فراه او ګرشک والي وو. او محمد امين خان د قندهار والي وو. پدوی کې مشر افضل خان وو، مګر امير دوست محمد خان خپل دريم زوی شير علی خان چه د هرات والي وو وليعهد نامزد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی وو. څکه نو د امیر دوست محمد خان له مرګه وروسته په افغانستان کې خانه جنګي پیل شوله.
امیر شیرعلي خان د انګریزانو له خوا همیشه رټل شوی وو او دا کار د دې سبب شو چه امیر شیر علي خان له انګریزانو مخ واړوي. او د انګریزانو داسې دښمن ته لاس اوږد کړی کوم چه هغه روس وو او په منځنۍ آسیا کې ئې ډیر ځایونه نیولی وو. انګریزانو غوښتل چه روس په منځنۍ آسیا کې په پوځي اشغال پریږدي، مګر په مقابل کې ئې له روسانو غوښتل چه په افغانستان غرض ونکړي چه د انګریز له تسلط لاندې پاته وي. او کله چه دا خبرې تیتې شولې چه امیر شیرعلی خان له روسانو څخه د کومک غوښتلو هڅه لري، انګریزان په تشویش کې شول.
کله چه شیرعلي خان خپلو وروڼو ته او امیر عبدالرحمن خان ته ماته ورکړه، نو ئې په هند کې واکمن انګلیس "لارد لورنس" ته د خپلې کامیابي په هکله برې لیک واستاوو. نو انګریزانو امیر شیر علي خان ته د مبارکي له ځواب سره یو ځای شپیته زره پونډه او درې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زره پنځه سوه توپک واستول او د نورو شپیتو زرو پونډو وعده ئې ورکړه. چه بیا په کال ۱۸۶۹ کې امیر شیر علی خان د هند " امبالا" ته د انګلیس د شاه د نائیب د لیدلو په مقصد سفر وکړ او هلته ډیر ښه هرکلی شو. انګریزانو ظاهراً ښه سلوک را اخیستی وو.

امیر شیر علي خان د اصلاحاتو په نیک نظر مشهور امیر دی. چه کله له هند څخه راوګرځید نو ئې د خپل آرمان د پوره کولو لپاره د اصلاحاتو پلان جوړ کړ چه مهم څو ټکی ئې دا دی:

یو: د عدل وزارت جوړول او شکنجې لیرې کول.

دوهم: د خلکو له اوږو څخه وسلې لیرې کول یا په قانوني دلایلو وسلې ګرزول.

دریم: د شپې له خوا په ښار کې د امنیت نیولو لپاره د پولیسانو مراقبت.

څلرم: شهزادګانو ته د ځمکو ورکولو په ځای نقدي معاش ورکول، چه دې کار امیر شیرعلی خان ته زیات دښمنان پیدا کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم: رسمي ماموران او د دربار خلکو ته د اروپائي لباس آغوستلو او د دولت په چارو کې د نظم او نظافت مراعات کولو فرمان.
شپږم: د یوې ښې اردو بنیاد کیښودل او پوځي قوماندې د پښتو په ژبه آړول. او اردو ته په کابل کې د وسلو جوړولو د فابریکې جوړول.
اووم: په شیر پور نومي ځای کې مشهور نوی ښار جوړول.
اتم: د وطن د چارو د ښه سمون په خاطر د مشورتي پارلمان ضرورت او پراخه علمي تعلیم.
دلته وو چه د امیر شیر علی خان د مشاورینو له جملې څخه د کنړ د ولایت په یوې داسې کورنۍ منسوب شخص له خوا له هوشدار سره مخامخ شو. دا کورنۍ له ډیرو پخوا زمانو "د عربو د اشغال له زمانو" څخه چه بیا افغانستان ته پرله پسې زیات عربان راغلل او په افغانستان کې میشته شول او ځانو ته ئې "سیدان" وویل او مذهبي برلاسی ئې په خلکو تر لاسه کړه. چه دې برتری تر پیړیو دوام موندلی وو. دا سړی سید جمال الدین

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومیده چه بیا په نورو هیوادو کې په "سید جمال الدین افغان" یاد شو. د امیر د اصلاحاتو په ضد پدې بهانه ودریده چه لمړی خبره د جامو وه، چه امیر شیر علی خان دولتي چارو کې دریشۍ شرط ګڼلې. مګر سید جمال الدین په اسلامي سنت او جامو ټینګار کاوو. او کله چه خبره د پښتو ژبې هغو قوماندو ته راورسیدله چه اردو ته ورکول کیدله، بیا هم سید جمال الدین د ملي پوځ په ځای اسلامي پوځ غوښت چه قومانده ئې هم باید په عربي ژبه وي. یوه ورځ په دربار کې د سید جمال الدین تجاوز آمیزه لهجه او امیر ته د یو لار ښونکي په برتري چه د نوموړي خپل ذاتي د خپل رګ فضیلت وو له اسلام څخه خبرې وکړې او امیر ئې په غفلت مخاطب کړ، چه دا یو حقارت وو. نو امیر ورته وویل چه "ما تر دا ننه پدې آرزو پیژندلې چه ته به د دین عالم ئې چه دین د ملت په خدمت کې په کار واچوې نه چه ملت له دین لاندې په همدغه نوم خلک له علم څخه منحرفه کړې. بله آرزو مې ستا په شناخت کې دا وه چه په تا کې به د هغې ښوونې لحاظ پروت وي کوم چه له ډیرو زمانو او له لیرې وطنو څخه په راتلو سره دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاورې تاته درکړه، چه ته پوه شې په افغانستان کې ئې ځکه چه پدې خاوره کې د نیکونه وزیږیدل. اوس اجازه راکړئ چه دا ملت خپله ژبه ولري، خپله اردو ولري لکه چه خپل وطن لري".

په ځواب کې سید جمال الدین امیر ته وویل چه "تا زما نیکونو ته حقارت وکړ! دا زما نیکونه وو چه تاسې ته ئې اسلام در زده کړ او تاسې ئې له کفر څخه خلاص کړئ! ته د یو امیر په صفت مجبور ئې چه د فرنګی تعلیم په ځای د اسلامي تعلیم لاره غوره کړې چه تاسې ته همدغه اسلام له ظلمت څخه نجات درکړی دی". نو امیر هم دا ځواب ورکړی وو چه "څو میاشتې شوې چه ستا خبرو ته مې حقارت ونه ویل. تاته مې د استاد خطاب کاوو مګر نور پدې پوه شوم چه ته د خپلو خبرو غږ په خپلو غوږو نه آورې. لکه داسې چه په تخت ته ناست ئې او د افغانستان د دین او د دولت واک دواړه ستا په لاس کې وي. او ځان د پدې خلکو او په ما درته بادار ښکاري، کوم چه ستا نیکونو همدا خوی تاته په میراث پریښود. نور په

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو تخت باندې دوه نفره نه ځایږي چه یو امیر وي بل ملا.
یو به نه وي یا ته او یا زه! پوه شوې ملا؟".
دې سرې په امیر شیر علی خان پسې د کفر زیات
تهمتونه وتړل او خلکو ته به ئې ویل "چه زه ئې له درباره
وشړلم. او امیر شیر علی خان ماته وویل چه ته ولې د
اسلام څخه خبرې کوې. اې خلکو آیا اسلام له یاده اووت؟
او که تاسو له یاده ویستلی نه وي، مګر ستاسو امیر له
یاده ویستلی. زه دا هیواد پریږدم. هغه هیواد پریږدم چه
په هغه هیواد کې د هغه هیواد امیر اسلامي تعلیم نه مني
په ځای ئې د کافرانو تعلیم اعلانوي".
بیا هماغه وو چه د حج په پلمه له افغانستان څخه
اووت او هند ته ولاړ او هلته ئې د آزادۍ له عنوان لاندې د
ټول اسلامي قدرت پداسې الفاظو غوښت چه " که آزادي
او استقلال هم وي، مګر د اسلام له حاکمیت لاندې به وي.
او که استقلال ګټل کیږي پدې ایمان او عقیده به خامخا له
کفارو څخه ګټل کیږي چه بیا په هغو آزادو شوو هیوادو
کې اسلامي تعلیم رائیج شي ...". چه بیا له هند څخه
ایران، مصر او عثماني امپراطورۍ ته ولاړ، چه زیاته موده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې د اروپا په مختلفو هیوادو کې هم تیره کړه. او یو ځل خو پطروګراد ته هم په چکر تللی وو، چه دومره مصارف به لدې ملا سره له کومه شوي وو؟ چه اصل مقصد د همدې ځواب په څېړنه کې پروت دی چه دا سړی بیا ولې او د کومو تشکیلاتي فعالیتونو له خوا دومره شهرت ته ورسید؟ مګر تر دا ننه ئې چا حقیقي بڼه ونه پیژندله.

امیر شیر علی خان د خپلو نیکو هیلو په ستومانو لارو کې د اوچتو ګامو اخستلو ته په آرام پکر پاته نشو ځکه چه بیا هم د روس او انګریز د قوتونو د رقابت له فشار لاندې یوې داسې سیاسي اشتباه ته واووښت چه عاقبت ئې دردناکه وو. دا غلطه سیاسي لوبه د امیر دا وه چه د انګریزانو په مقابل کې ئې پخوانی نفرت د روسانو په دوستي بدله کړه او دا لوبه ئې ولوبوله. چه هم "د افغان- انګلیس" د دوهم جنګ شرطونه ئې برابر کړل او هم ئې خپله شخصي غوصې بیرته د امیر په مزاج او صحت مخ راواړاوو. چه په آخر کې یو عصبي انسان ترې جوړ شو چه حتی خپل سکه زوی امیر محمد یعقوب خان یې تر پنځو کلو په بند واچاوو. دا اعصبي حالت هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت امير ته پيدا شوى وو چه کله د خپلو ورونو له شرارت او جنګ سره مشغول پاته شو. او چه کله ئې د قلات په سيمه کې د خپل ورور محمد امين چه د قندهار والي وو له جنګ سره مخامخ شو او پدې جنګ کې امير شير على خان دوه کسان له لاسه ورکړل، چه هم محمد علي خپل مشر زوى او هم خپل کشر ورور محمد امين د جنګ په ميدان يو بل مخامخ په توره ووهل او بيا دواړه له آخستلو زخمو څخه د امير په خيمه کې په حق ورسيدل. چه په همدغه علت امير شير على خان له تخت او جنګ نه لاس واخيست او ګوشه نشين شو. چه په تياره ځاى کې به ئې تکى تنها خپل غم په اوښکو تيراوو. چه بيا وروسته ئې بيرته د افغانستان حالاتو ته پام شو او پداسې وخت کې چه کله امير عبدالرحمن خان په لمړى ځل مات شوى وو او په لمړى ځل بخارا ته تښتيدلى وو، مګر له هغه ځايه د امير شير على خان له حالت نه چه کله خبر شو بيرته ئې په کابل مخ راواړاوو او تخت ئې خپل پلار ته نيولى وو.

د امير بل ضعيف اړخ دا وو چه د خپلې يوې ښځې د ډير ګرانښت له کبله د هغه وړوکى زوى چه "عبدالله جان"

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومیده چه لا بالغ شوی هم نه وو، مګر په هماغه واړه عمر
ئې ولیعهد ټاکلی وو. او له ځان سره ئې چه کله برطانوي
هند ته په رسمي سفر کې بوولی وو نو ئې له انګریزانو
څخه هم د یو رسمي معاهدې په رسمي ماده کې د خپل
راتلونکي جانشین نوم همدا عبدالله جان ورکړی وو. چه
بیا ئې امیر ته په خپل کور دننه کې هم د سر دردونه پیدا
کړل او محمد یعقوب خان د امیر مشر زوی له خپل پلار
څخه یاغي شو.
او آخري اشتباه ئې دا وه چه له روسئې نه دوه دیرش
کسیزه لوی هئیت افغانستان ته د امیر په غوښتنه او
اجازه راغی چه امیر په ډیر زیات خوشبینۍ په خوښۍ
هرکلی کړ. مګر په مقابل کې ئې د انګریزانو هئیت ته
پداسې وخت کې خپله دښمني او د رد ځواب ښکاره کړ
چه له یوې خوا امیر د انګریزانو د دې پرله پسې پوښتنو
په مقابل کې له فشار لاندې نیول شوی وو چه " دا روسي
هئیت په کوم مقصد راغلی؟ او ولې د انګریز د هئیت له
منلو څخه ځنګ وهي؟". او له بلې خوا د دې فشار عصبي
نتیجه او علت دواړه دا وو چه شهزاده "عبدالله جان" په

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرم سرای کې په دولس کلني عمر د امیر د ښځو د دسیسو قرباني شوی وو او په زهرو وژل شوی وو، کوم چه په امیر ډیر ګران وو. نو یو سباهي وختي چه ټول ئې ناخبره پریښودل او د مزار په لور ئې کوچ وکړ، پدې مقصد چه له روس څخه بذات د انګریزانو په مقابل کې وسلې تر لاسه کړي. او د همدې مطلب لپاره پطروګراد ته ولاړ شي او د روس تزار سره مخامخ وغږیږي. مګر امیر ډیر ژر په ژمي کې په مزار کې مړ شو. کال ۱۸۷۹م چه بیا هم په منځ کې د زهرو دسیسه داخله وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# - ۱۰ -

# امیر دوست محمد خان

زموږ د تاریخ د قامي او قبیلوي جنګونو یوې خامې مرحلې ته د امیر دوست محمد خان له نامه لاندې رارسیږو. پدې مانا چه کله د افغانانو کور د ابدالي احمد شاه بابا په همت خپل تاریخي نوم د رسمي او دولتي حدودونو په دننه کې د "افغانستان" په عنوان پیدا کړ، نو د ابدالیانو د قبیلې په دننه کې نورې زیاتې پوښې یا قامونه هم موجود وو، چه له هغې جملې څخه "سدوزي" او "بارکزي" د افغانستان د تخت په نیولو کې یو د بل ګریوانونه تر نیمې پیړۍ څیرې کړل. څکه نو د امیر دوست محمد خان د پاچاهي سرګذشت په حقیقت کې د پاچا ګردشي، د خونریزي، د دسیسو او تر خپلو منځو یو د بل په سترګو باندې د میل کش کولو دردناکه داستان هم دی. هغه هم پداسې وخت کې چه انګریزانو افغانستان ته سترګې نیولې وې او د هند اشغال ئې تر آباسین پورې تکمیل کړی وو. او افغانستان ته لدې پاچا ګردشیو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیات زخمونه پاته شول. او د هغه عصر "نولسمه پیړۍ" بارزه ماهیت چه علمي او تخنیکي تلاش په ټولو ساحو کې د نوو نوو کشفونو د پراخه څیړنو او د یو پاڅیدلي تمدن او پیشرفت د خوځیدا مرحله وه، مګر له افغانستان څخه په همدې خونړیو جګړو او د نفاق په علت لیرې پاته شوه. چه د دنیا ډیرو هیوادو په تعلیم او جوړولو لاس اېښی وو او علمي ډیوې ئې بلولې، مګر زمونږ امیرانو تر خپلو منځو یو د بل سترګې ویستلې، چه شاه زمان د احمد شاه بابا لمسي څخه د ړندولو انتقام شروع شو. چه پدې توګه د ابدالیانو له ګنډې او د احمد شاه بابا زوی "تیمور شاه" په یواځې سر او څه نا څه له کورنیو جګړو څخه خوندي پاچاهي وکړه، چه د مې په میاشت په کال ۱۷۹۳ کې مړ شو. او قبر ئې په کابل کې د پل باغ عمومي تر خوا دی چه درۍ سوه ښځې او له دیرشو زیات اولادونه ئې درلودل.

او کله چه نوبت شاه زمان ته راورسید، له خپل مشر ورور همایون او له هغه کشر ورور محمود سره په جنګ واووښت چه وروڼه وو او د سدوزي فامیل وو. چه لا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سدوزیو او بارکزو تر منځه د لانجې شروع کیدو ته وخت پاته وو او چه بیا د امیر دوست محمد خان د تخت په بیا نیولو سره د سدوزیو په عوض محمد زیان اقتدار ته رسیدل چه هماغه د بارکزیو قام دی. ځکه نو له ۱۷۹۳م چه تیمور شاه مړ شو او پاچاهـي زمان شاه ته ورسیدله. له هماغې سنې څخه تر کال ۱۸۲۶م او له هغه وروسته تر کال ۱۸۶۶م پورې دا اوږده کلونه زموږ د تاریخ د خانه جنګیو مرحله جوړوي او چه له مطالعې لاندې په مجموعي توګه نیول کیږي.

محمود به چه کله شکست وخوړ نو به ئې ایران ته پناه ویوړه چه په ایران کې " قاجار" خاندان حکومت کاوو. نو به ایران اردو ورکړه بیرته به ئې په افغانستان حملې شروع کړې. او پخپله زمان شاه یا "شاه زمان" د افغانستان داخلي چارې پرې ایښې وې او درې ځله ئې په هند حملې وکړې. چه کله به شاه زمان د هند په خاوره په حملو مشغول وو، نو مشر وروربه ئې د ایران په مټ په افغانستان حملې شروع کړې. پدې توګه د شاه زمان یوه پوښه په هند کې، بله بیرته افغانستان ته په تلوار تلوار

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلو سره په ناقصه ستوماني کې ژوند تیر شو. چه بلاخره د شاه زمان وژلو ته دسیسه جوړه شوه، نو شازمان دسیسه جوړونکي مشران ئې په چل خپل سرای ته راوغوښتل او ټول ئې ووژل "۱۸۰۳م". د خانه جنگي مهم اور له همدې فساد نه پورته شو، چه افغانستان ئې نیمه پیړۍ په خپلو لمبو کې وسوزاوو. او علت ئې د بارکزیو د قام او د محمدزي د خاندان مشر د "پاینده محمد خان" وژنه وه، چه هغه هم په دسیسه کې شامل وو. دده وژنه د نورو نوو فسادونو په رامنځ ته کولو کې پیشقدمه حادثه وه. ځکه چه د هغه زوی فتح محمد چه په وزیر فتح خان مشهور دی له خپل ټول عیال سره ایران ته وتښتید او هلته د شاه زمان له ورور محمود سره یو ځای شو. او بیرته ئې په ګډه په افغانستان مخ راواړاوو او له شاه زمان څخه ئې تخت ونیوو. چه محمود په شاه محمود یاد شو او فتح خان ئې خپل وزیر وټاکه. کله چه شاه زمان پیښور ته خپل سکنی ورور شاه شجاع ته چه د "شجاع الملک" په لقب یادیده او د پیښور والي وو ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



رساوو، په لاره کې یو ملا خپل کور ته میلمه کړ او شاه زمان له ځان نه ناخبره په ملا اعتبار وکړ. ملا عاشق شاه محمود ته په پټه احوال واستاوو. شاه محمود خپل ورور ونیوو او لاسونه ئې د ملا په کور کې وروتړل او بیا ئې د اوسپنې یو میل په اور سور کړ د ملا لاس ته ئې ورکړ او هغه میل ئې د شاه زمان په سترګو کېښود. نو ملا عاشق له شاه محمود نه زیاتې پیسې په مکافات واخستلې.

دا هغه انتقام وو چه شاه محمود د خپل سکني ورور همایون د سترګو غچ له شاه زمان نه واخیست، ځکه شاه زمان د همایون په سترګو همداسې یو میل کش کړی وو. دا ورونه نفاق او خود خواهیو ړانده کړي وو او له عاطفې څخه ئې پردي کړي وو، چه یو د بل سترګې ئې ړندولې. په منځ کې تخت او هغه پیسې پرتې وې چه د شاه زمان دولت ته به راتللې، تر څو چه هغه هم له تخت نه ولوید او ړوند کړل شو:

۱. له کشمیر څخه د دولت خزانې ته هر کال ۷۸۰۰۰۰ روپۍ تحویل کیدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. له ملتان څخه ۳۰۰۰۰۰ روپۍ.
۳. له دره اسماعیل خان څخه ۷۰۰۰۰۰ روپۍ.
۴. له دره غازي خان څخه هم ۷۰۰۰۰۰ روپۍ.
۵. له پیښور څخه ۲۰۰۰۰۰ روپۍ.

او د شاه زمان د "۱۲۰۰۰" کسیزې اردو مهم کسان هغه قزل باشان وو چه احمد شاه بابا له ایران څخه راوستلي وو او دوی شیعه مذهبه ترکمنان وو. او پدې اردو کې د هزاره جات له ولایت څخه هم زیات کسان شامل وو. او هر عسکر ته به ئې په کال له "۱۰" تر "۱۵" تومنو پورې معاش ورکاوو. له هزارګانو څخه "۲۰۰۰" نفرو د شاه د نژدې امیرانو په خذمت کې وو، چه دوی ته به ئې په هزاره جات کې د ځمکې د ګروي حق ورکاوو. او له درانیو څخه ملي "قامي" اردو د هر قام د مشر په قومانده "۳۰۰۰۰" سوار کار وو. پرته له درانیو "ابدالیانو" غلجي او بلوچ هم د شاه زمان په اردو کې وو. او چه دا تیزه له ابدالي احمد شاه څخه کیښودل شوې وه، چه کله به ئې د هند نیولو ته حرکت وکړ نو به د بلوچانو، د دیره جاتو، د غلجیو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو او د ملتان له ولایتونو څخه پدې اردو کې داوطلبان داخل شول چه د سورو شمار به له "۳۰۰۰۰" څخه زيات وو. د اوښانو سوارکاران اکثره بلوچان وو.
د شاه محمود د پاچاهي زور د وزير فتح خان په مټ کې وه، ځکه هغه تخت ورته ګټلی وو. خپله شاه محمود به دننه په خپل حرم سرای کې په ناقصو ساعت تيريو ورځ تيروله. ټول کارونه د وزير فتح خان په لاس کې وو. مګر ها خوا شجاع الملک د شاه زمان ورور له پيښور نه د کابل د نيولو عزم وکړ. مګر وزير فتح خان ئې مخې ته وراووت او په ننګرهار کې يې سخته ماته ورکړه. او چه کله وزير فتح خان له کابل څخه ليرې وو، نو په کابل کې د قزل باشو ښاريانو او د سنی مذهب تر منځه بغاوت جوړ شو. او دې مذهبي جنګ کور په کور لمبې خپرې کړې، چه تر دې وخته " شجاع الملک" د خيبر د غرو په قامونو سرګردانه ګرزيده. مګر يو په يو يې له يو کم قوت سره ځان کابل ته راورساوو او په ناځاپي حمله ئې شاه محمود په حرام سرای کې ونيو او همالته ئې مټې وروتړلې. او خپله په تخت کشيناست چه په شاه شجاع ياد شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیر فتح خان پدې ځل شاه شجاع ته په اطاعت راغی او لاسونه ئې د تسلیم په سینه کیښودل او شاه شجاع وبابښه او منصب ئې ورکړ. مګر د شاه زمان زوی قیصر او د شاه محمود زوی کامران دواړه شاه شجاع ته پورته شول چه لا د شاه شجاع د پاچاهي یوه میاشت هم پوره شوې نه وه. پدې ځل چه وزیر فتح خان د شاه مخالفان ولیدل چه پورته شوي دي نو ئې د شاه شجاع ملا تړي پریښودله او له یاغي شهزادګانو سره د شاه په ضد یو ځای شو. او خانه جنګي پیل شو چه تر ۱۸۱۰م پورې ئې دوام وکړ.

شاه شجاع د خپلې پاچاهي د هرج مرج له دورې مخکې د انګریزانو یو هئیت په پیښور کې منلی وو او له هغو سره ئې یوه معاهده هم په لمړي ځل امضا کړې وه. چه د دې معاهدې اصلي موضوع د فرانسې د دولت محتمل خطر په نظر کې نیول شوی وو، چه لا د شاه زمان د پاچاهي په دوره کې د فرانسې نامتو قوماندان "ناپلیون" غوښتل چه د هند اشغال عملي کړي چه دا به له انګریزانو سره جنګ وو، " ۱۸۰۹-۶-۱۷م". د معاهدې لمړی ماده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. د قاجار د خاندان واکداران د دراني حکومت او دولت په ضد له فرانسې سره یو لاس شوي دي. نو که چیرې دا دواړه مخالف دولتونه افغانستان ته داخل شي او که وغواړي چه له هغه ځایه هند ته داخل شي، نو شاه شجاع به د هغوی مخه نیسي، چه انګریزان به د شاه ټول پوځي مصرف په همدغه لار کې په غاړه آخلي.

۲. افغان او انګلیس به تل دوستان وي. نو شاه به حتی یو نفر فرانسوی ته هم دا اجازه نه ورکوي چه د دراني دولت له حاکمیت لاندې ځمکه کې خپله پوښه کیږدي.

چه بیا د انګریزانو له شاه شجاع سره دوهمه معاهده په " ۲۵-۱۱-۱۸۱۴م " کې په دوهم ځل هم رامنځ ته شوه چه نورې خبرې هم ورسره وې.

شاه شجاع چه لا په تخت پوره محکم شوی نه وو، چه پدې ځل وزیر فتح خان په دوهم ځل کابل ونیوو. او بیا ئې شاه محمود په تخت کشیناوو. او شاه شجاع پیښور ته وتښتیده. او هلته ئې بیا لښکرې را برابرې کړې او په سختو جګړو ئې لاس پورې کړ. د دې جنګونو په دوام کې بلاخره په یو ځل شاه شجاع اسیر کړل شو او لاس تړلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې کشمیر ته تبعید کړ او هلته ئې له نظارت لاندې
پرېښود کال " ۱۸۱۲م ".
شاه شجاع بیا په کشمیر کې هغه وخت د "رنجیت سنګ"
په لاس کې لوېزي چه کله رنجیت سنګ کشمیر فتح کړ.
او له شاه شجاع نه یې هغه مشهور الماس چه په "کوه
نور" ئې شهرت درلود وغوښت. دا الماس نادرشاه افشار
چه کله هند ونیوو د ګورګاني خاندان له شاه څخه ئې
آخستی وو او کله چه احمد شاه د نادر افشار د ګارد
خصوصي افسر وو او نادر افشار ووژل شو، نو احمد
خان "احمد شاه بابا" د نادر افشار حرم له تجاوز څخه
وساته او د دې کومک په مقابل کې د نادر افشار ښځې
دا الماس احمد خان ته بخشش کړی وو.
نو رنجیت سنګ د کوه نور الماس په زوره له شاشجاع
نه واخیست او بیا شاه شجاع لاهور ته واستاوو او هلته
ئې بندي کړ. بیا وروسته له څو کلونو شاه شجاع له زندان
څخه په پټه وتښتید او انګلیسانو ته ئې پناه ویوړله
۱۸۱۹م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې موده شاه محمود پاچاهي کوله او د شاه محمود ورور "حاجي فیروز" په هرات کې والي وو. د ایران د قاجار حکومت په هرات لښکرې راوویستلې، نو وزیر فتح خان د حاجي فیروز مرستو ته ورغی. او چه کله ئې ځان پوه کړ چه حاجي فیروز د ولایت لیاقت نلري، هغه ئې له چوکۍ نه لیرې کړ. پدې وخت کې دی چه په لمړی ځل د امیر دوست محمد خان څهره د افغانستان په صحنه کې ظاهریږي. هغه هم پداسې یو شرمناک آغاز چه کله حاجي فیروز له چوکۍ نه لیرې شو، نو د وزیر فتح خان ورور دوست محمد "امیر دوست محمد خان" د حاجي فیروز حرم سرای ته ځان ورساوو. د حرم سرای په ځینو ښځو ئې تجاوز وکړ او د هغوی له غاړو ئې امیلونه او ګاڼې په زور وشکولې. د ښځو په جمله کې د شاه محمود لور هم وه، کوم چه د حاجي فیروز زوی ته شاه محمود ورکړې وه. پدې حادثې یو خانداني کین او انتقام شروع شو. نو چه کله د شاه محمود زوی کامران خان په دوست محمد پسې شو، چه وئې نیسي هغه په پټه او په ډیر تلوار په نیمه شپه ځان له هرات څخه ورک کړ. او چه کله ئې پته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولږيدله نو ځان ئې کشمير ته په تيښته رسولی وو. مګر د کامران خان غوصه ماته شوې نه وه نو ئې د دوست محمد ورور وزير فتح خان ګرفتار کړ او په سترګو ئې ميل ورکش کړ، ړوند ئې کړ. او بيا همدا ړوند وزير په غزني کې د سدوزيو د مشرانو له خوا ووژل شو.

دې کار د افغانستان هيواد ته يوه بدمرغي راوستله.

وزير فتح خان چه کله د شاه محمود د واکداري ټول امکانات په خپل لاس کې نيولي وو، نو ئې خپل ټولو ورونړو ته ولايتونه او د قوماندانۍ منصبونه ورکړل او قوت ته ئې ورسول. او چه کله وزير فتح خان اول ړوند او بيا ووژل شو، نو د وزير ټولو ورونړو د عصيان بيرغونه جګ کړل. په پيښور، ملتان، کشمير،کندهار او نورو صوبو کې د وزير هر ورور ځان له مرکز څخه آزاد کړ او په جنګ ئې لاس پورې کړ، چه تر هغو له ټولو سدوزيو غچ واخلي. نتيجه دا شوه چه د سدوزيو او محمد زيو تر منځه قامي دښمني او د تخت نيولو رقابتونو د افغانستان هيواد په ډيرو برخو وويشه، چه نور واحده مرکزي قومانده او مرکزي حاکميت له منځه ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې جنګونو کې وو چه د وزير فتح خان ورور دوست محمد کشمير پريښود په کابل ئې حمله وکړه. دا سړی د خپلو نورو ورونړو له خوا پدې خاطر رټل شوی وو چه مور ئې د کابل قزلباشه وه. مګر دوست محمد له ټولو ورونړو څخه چل بازه او دسيسه بازه وو. چه له همدې لارې ئې بلاخره د کابل تخت ونيوو. ځکه چه په کابل کې د قزلباشانو قوي قوت ورسره وو، چه په ملاتړ ئې ودريدل. "۱۸۲۶م".

لاکن امير دوست محمد خان ونشو کړای چه د خپلو ورونړو د دوامداره بغاوت له لاسه آرام پاته شي. چه دې داخلي خانه جنګيو تر ۱۸۳۱م پورې افغانستان د هرج و مرج طوفان ته وسپاره او هيواد د بې امنيتي او بالخاصه د فقر د ګودال څنډې ته ورسيد. او ها خوا شاه شجاع يو ځل بيا وغوښتل چه د سدوزيو قدرت د تخت او پاچاهي له لارې بيا ميدان ته وباسي او د اقتدار له تخت نه محمد زيان ليرې کړي. نو يې له دريو منابعو کومک وغوښت. يو له رنجيت سنګ څخه، دوهم له انګريزانو او دريم د سند د صوبې له اميرانو څخه. مګر انګريزان بيطرفه پاته شول او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د سند امیرانو کوم ټینګ قول ورنکړ. تنها رنجیت سنګ کومک ومانه، مګر شرطونه ئې دا وو چه:
۱. پیښور به زما وي.
۲. ستا فامیل به له ما سره پاته کیږي.
نو شاه شجاع یو څه اندازه لښکرې راټولې کړې د کندهار په خوا ئې حرکت وکړ. په کندهار کې د محمدزیو واکمن سردار له کابل نه کومک وغوښت او امیر دوست محمد خان ځان ورورساوو. د میدان په مخامخ جنګ کې ئې شاه شجاع ته سخته ماته ورکړه. په همدې وخت کې وو چه " ۱۸۳۴م " رنجیت سنګ په پیښور حمله وکړه. هغه ځای ئې له سلطان محمد خان څخه ونیوو، چه د امیر دوست محمد خان ورور وو. سلطام محمد خان باجوړ ته وتښتید چه بې له کومې مقابلې او مقاومت څخه پیښور د رنجیت سنګ لاس ته ورغی.
او په همدې وخت کې سلطان محمد خان رنجیت سنګ ته احوال واستاوو چه سره یو لاس شي او د کابل تخت په ګډه له امیر دوست محمد خان څخه ونیسي. رنجیت سنګ د قهر خندا کړې وه او دا ئې ورته ویلي وو چه "افسوس د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان په ناخبرو خلکو چه تاسې غونډې کسان ئې پاچایان شوي دي...".

له یوې خوا چه رنجیت سنګ د دیره جات، پشاور، کشمیر نیولو ته دوام ورکړ، مګر په کندهار کې د امیر دوست محمد خان ورور "کهندل خان" د ایران حکومت دې ته تشویقاوو چه هرات اشغال کړي. ځکه چه هلته د سدوزیو د خاندان آخري حکمران "کامران د شاه محمود زوی" والي وو. او کله چه د ناپلیون خطر له هند څخه د ماسکو په خوا آووښتی وو او په ماسکو ئې ۱۸۱۳م حمله کړې وه، نو روسانو د ایران نیولو ته دوام ورکړ. او په هر وار ئې یوه سیمه ترې نیوله. مګر روسانو ایرانیان دې ته تشویقول چه د ترکمنستان او افغانستان په لور لدې هیواد څخه ځان ته سیمې ونیسي، او پدې لار کې روسانو د مرستې وعدې هم ورکړې وې. او په همدې کلونو کې شاه شجاع له خپل شکست څخه وروسته انګریزانو ته پناه وړې وه او انګریزانو په "لودیانه" کې ځای ورکړی وو. یو ځل بیا شاه شجاع ته د تخت د نیولو شوق پیدا شو. پدې باره کې له انګریزانو سره د رنجیت سنګ په شمول

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه شجاع یوه معاهده امضا کړه چه د تخت له نیولو وروسته به شاه شجاع له دیره جاتو، کشمیر او پیښور څخه رسماً لاس آخلي او دا سیمې به د رنجیت سنګ وي. بر علاوه شاه شجاع به هر کال رنجیت سنګ ته د خروار په حساب بادام، پسته، کشمش، وچه او لمده میوه لیږي. هر کال به له لسو تر دیرشو بهترین آسان او د غزني مشهور پوستینچې او پوستینونه، قالینې او ښو ښې تورې او خنجر هم ورلیږي. په مقابل کې به رنجیت سنګ په کال کې شاه شجاع ته وریجې آستوي. او رنجیت سنګ به خپل یو ښو عسکر د انګریزانو له قواوو سره یو ځای د انګریزانو له قوماندې لاندې د شاشجاع کومک ته لیږي چه تخت ورته ونیسي. دا معاهده امضا شوه او له دو مهمو خواوو د افغانستان په هیواد لښکرو حرکت وکړ. یو د سپین بولدک او د بولان او کوټه له خوا وو په کندهار، دوهم د خیبر د درې له لارې چه د شاه شجاع زوی شهزاده تیمور ئې په سر کې وو. او ها خوا د ۱۵۰۰۰ نفري پوځ په راس کې "مکناټن" قرار درلود چه هم پوځي او هم سیاسي واکدار وو او شاه شجاع ئې تر څنګ وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار کهندل خان کندهار پریښود او وتښتیده. کندهار په " ۲۵ - ۴ - ۱۸۲۹م " د شاه شجاع لاس ته ورغی. مګر افغانانو یو عجیب عکس العمل ښکاره کړ، چه د کندهار په مشهور جمات کې یې په هغه ماښام خلکو په هغه ملا پسې لمونځ ونکړ کوم چه دا ملا د شاه شجاع په هرکلي کي هم د شاه شجاع لاس ښکل کړی وو او هم ئې له شاه شجاع څخه یوه کڅوړه پیسې منلې وې. په جمات کې هر چا ځان ته لمونځ وکړ. ملا د علت پوښتنه وکړه، ځواب ئې داسې واورید چه "پښتانه په هغه ملا پسې لمونځ نکوي چه د پردیو د غلام لاس ئې ښکل کړی وي". او شاه شجاع ډیر کوشش د کندهار او کابل په لاره کې هم ښکاره کړ چه ملایان د ځان کړي او د پیسو خلتې ئې مخکې له مخکې د همدې کار لپاره تیارې کړې وې ځکه چه ملایانو په عوامو کې مذهبي نفوذ درلود.

شاه شجاع د انګریز له پوځ سره جون تر ۲۷مه پورې په کندهار کې پاته شو. او د کابل په لور ئې بیا حرکت وکړ چه په " ۷ - ۸- ۱۸۳۰م " کابل ته راورسید، او امیر دوست محمد خان بخارا ته وتښتیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یوه میاشت وروسته د شهزاده تیمور په سرکردګي د جلال آباد پوځ هم ځان کابل ته راورساوو. په تخت شاه شجاع ناست وو مګر ټول پوځي، سیاسي حتی اداري واک د مکناټن په لاس کې وو. او په حقیقت کې انګریزانو په افغانستان کې په افغانانو حکومت کاوو. چه په همدغه علت دې رنګه حقارت زیات دوام مونډلی نشوای، نو د "افغان - انګلیس" لمړی جنګ او د انګلیسانو لمړی شکست زموږ په تاریخ کې د ملي حماسې ویاړلی داستان پریښود. چه متحدو او یو موټي شوو افغانانو خپل افغانیت میدان ته وویست. چه شاه شجاع ووژل شو، مکناټن ووژل شو، د انګلیس ټول پوځ تباه شو. او د دې مرحلې د هرې ورځې حماسې او د اتفاق او د ملي ارادې د هرې ورځې افسانې ځانته د هر افغان د مطالعې تنده راغواړي. او بیا امیر دوست محمد خان د دوهم ځل لپاره د کابل په تخت کشیناست. او په کال ۱۸۶۳م کې مړ شو، قبر ئې په هرات کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوټ : نن زما په لاس کې نور سپین کاغذونه خلاص شول. لارې او دکانونه بند دي او هرې خواته لیرې او نږدې د وحشتناکو چاودنو غږونه اوریدل کیږي چه انسان ته د تمرکز توان نه پاته کیږي. ځکه نو دوهم فصل پای ته ونه رسید. نو که ژوندی پاته شم، پاته برخې ته به کوم بل وخت دوام ورکړم.

تر هغه وخته د خدای پامان چه کله بیا کاغذونه پیدا شول نو بیا به خبرې کوو، کومې چه پاتې دي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**